# د افغان الک

# او

# آذري جلۍ

# مینه

لیکوال:
ډاکټر مهندس حشمت الله «اتمر»
[illegible]اشت / [illegible]ګان[illegible] / کال [illegible]

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د افغان الک او آذري جلۍ مینه
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**اېډېټور:**
**د پښتنۍ ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** چنګاښ میاشت / کال ۱۴۰۳
**ګرځنده اړیکه:** ۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښوونې ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**

**پخښتۍ........................................................................... ۱**
**بسم الله الرحمن  الرحيم ................................................................. ۲**
**لیکي پو هه:....................................................................................... ۳**
**لړلیک ....................................................................................... ٤**
**تراڼ (پیل، شروع، برید).......................................................................... ٥**
**د یادښتونو له پاره:............................................................................. ۷**
**ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان) ................................................................. ۸**
**د چاپ شویو کتابونو لېست............................................................. ۱۱۲**
**د کار لاندې کتابونو لېست ............................................................. ۱۱٥**
**د امکان او وخت په صورت کې............................................................. ۱۱٦**
**د  پخښتۍ څښ ............................................................................. ۱۱۷**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ترانې (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللَّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللَّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِه .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات پوهه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقی داستان یا ناول چې کیسه یې د آذربایجان په پلازمینې (باکو ښار) کې تېره شوی ده د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مېنه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نو ځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې څانګې مېنه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وینو او نه يې پېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپېڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر ټولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هېله کیږي چې، خپلې غوښتنې او وړاندیزونه د دې کتاب د بیا کتنې له پاره، زما سره شریکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸

په در نښت
ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یادښتونو له پاره:

۱- .......................................................................................

۲- .......................................................................................

۳- .......................................................................................

۴- .......................................................................................

۵- .......................................................................................

۶- .......................................................................................

۷- .......................................................................................

۸- .......................................................................................

۹- .......................................................................................

۱۰- .......................................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کېسه یا داستان)**

سفدر نوی ځوان شوی افغان الک و چې دعالي لېسې نه فارغ شوی او د کانکور په آزموینه کې د پولي تخنیک انستیتوت (د پولي تخنیک پوهنتون) ساختماني پوهنځي ته په لوړو نمرو کامیاب شوې و، خورا زړور او با استعداده زدکړیال و.

هغه یوه سمستر زدکړې په لوړو نمرو تر سره او د نورو زدکړو له پاره د بورسې تر لاسه کولو سره بهر هیواد ته معرفي شو.

هغه هیڅکله د هیواد نه بهرته سفر نه و کړی، په کابل ښار کې یې د اصولو سره سم صحي معاینات پیل کړ او په یوې اونۍ کې یې ختمې او بیا وروسته یې پاسپورت تر لاسه کړ، د الوتنې وخت یې د افغانستان په کلیزې (جنترۍ) د جمعی ورځ او سهار نهه بجې، کابل وخت ټاکل شوی و.

هغه د اړتیا وړ شیان او کالي پېرودلي اوپه بکس کې یې ایښې ول، د جمعې ورځ ورسیده او هغه وختي له خوبه پاڅېد، لمانځه نه وروسته یې پر خپلو کالیو لاس و واهه چې د سفر کوم شی یې له هیره نه وي وتلي.

شیان بشپړ ول، بیا یې بکس اوچت او په زړه کې یې و ویل:
خدای وکړي تر یو ویشت کیلو ګرامه ډېر نه وي، بیا یې د پلار، مور، ورونو او خویندو سره خدای پاماني وکړه، بکس یې واخیست او د کوره د باندې شو.
موریې د رواج سره سم هغه پسې اوبه وشیندې او دروازه یې وتړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر خپل بکس د کوڅو نه عمومي سړک ته ورساو او سړک غاړې ته د ټکسي موټر په انتظار شو، تکسي راغی، بیعې بقالې نه وروسته په موټر کې کیناست او کابل نړیوال ډګر خوا ته روان شو.

سړکونه تش ول، دنن په شان ګڼه ګونه نه وه، قانون مراعت کېده او هري خوا ترافیکي اشارې وې.

په چوکونو کې ترافیک لیدل کېده او چلونکو ته به یې اشارې کولې، لږ څنډ وروسته، هوایي ډګر ته ورسېد او له موټره پلی شو.



کابل نړیوال ډګر ته د ننوتو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






د کابل نړيوال ډګر انځور

يواځې مخ په ترمينل روان شو، ځانګړي ځايونو کې يې د بکس او ځان لټون (تلاشي) ورکړ او هغه ته لار ښونه وشوه چې بکس د وزن کولو نه وروسته ځانګړې څانګې ته وسپارئ، په خپله نړيوال سالون ته ننوځي او تر اعلانه دې انتظار وکړئ.

هغه سالون ته لاړ او د کړکۍ  مخ ته کيناست، کوم ځای نه چې د هوايي ډګر ښه ننداره کېده او د الوتکو، الوتل او کيناستل ورته په روښانه توګه ښکارېدل.

څو دکيکې(دقيقې) وروسته يې وليد چې يوه لويه الوتکه د هوايې ډګر د ځغاستې سړک ته نږدې شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library






د آيرفلوت د کمپنی د الوتکی انځور (شوروی وخت)

ده ته خورا په زړه پورې وه، الوتکه د غاستې په سړک کيناسته او ورو، ورو د ترمينل خواته نږدې او بيا وروسته ودرېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................




د آیرفلوت د کمپنۍ د الوتکې انځور په هوايي ډګر کې (شوروی وخت)

د زینې ګاډی ور نږدې او د دروازې ځای سره یې جوښت کړ، د الوتکې دروازه خلاصه او مسافرو په کته کېدو پیل کړ. په الوتکه کې ډېری بهرنیان ول او دا الوتکه د پخواني شوروی اتحاد د آیر فلوت د کمپنۍ، الوتکه وه.

مسافرین خلاص او د بکسونو مسولین هم د بکسونو کته کولو ته پیل کړ، ټول بکسونه یې په ځانګړي ګاډي کې کېښودل او د ترمینل د بکسونو تسلیمېدو ځای ته یې یوړل، بیا یې د نوې الوتنې بکسونه په ګاډی کې کېښودل او الوتکې د بکسونو ځانګړی ځای ته یې ګاډی ودراوه او بکسونه یې په الوتکه کې کېښودل.
د ترمینل په لودسپیکر کې غږ شو:
د مسکو الوتکه چمتو ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژر شئ!
خپلې کڅوړې (بيکونه) واخلئ!
پاسپورټونه او ټکټونو مو په لاس کې و نيسئ.
خلک له خپلوځايونو څخه پاڅېدل او د خپلو شيانو په تنظيمولو يې پيل کړ، سفدر هم خپله کڅوړه ( بيک) غاړې ته واچوه او پاسپورت يې په لاس کې ونيوه چې په هغه کې ويزه او ټکټ هم ول.
مسافرين له ترمينل څخه و وتل او د الوتکې خوا ته روان شول، هلته د الوتکې زينې سره ودرېدل او د الوتکې ستيورډيسې و ويل:
لمړی دې، د تاشکند مسافرين پورته شئ.



د آيرفلوت د کمپنی د الوتکی انځور (شوروی وخت)

(c) ketabton.com: The Digital Library





د آیرفلوت د کمپنی د الوتکی انځور په کابل ښارکې (شوروی وخت)

د تاشکند مسافرین ختم او بیا یې و ویل:
نور مسافرین کولای شي الوتکې ته پورته شئ.
سفدر هم د لمړي ځل له پاره په الوتکه کې و خوت او بلې ستیوردیسې هغه ته د تکت د نمری سره سم د څوکی لارښونه وکړه، هغه څوکۍ ته نږدې او ستیوردیسی ور ته و ویل:

کڅوره دې پاس د کڅوړو(بیکونو) ځای کې کیږده او خپله دې پر ټاکلي ځای کینه.
سفدر پر خپل ټاکلي ځای کیناست.
مسافرین ټول پر خپلو ټاکلوځایونو کیناستل او د الوتکې دروازه د ځانګړی کس له خوا وتړل شوه، د الوتکې زینه لرې او الوتکې ورو، ورو د ځغاستي سړک پر لور حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکه د ځغاستي سړک ته ورسېده او د چمتو والی (تیارسئ) په حال کې شوه، بیا ستیورډیسو د خطر په حالاتو کې اړینې لارښونې وکړې او ویې ویل:
که چېرې نفس مو تنګېږی د دې الې (وسیلې) او د اوبو(بحر) په غورزېدو کې د دې واسکټ، د زړه بد والی او نوروستونزو په حالاتو کې د دی تنې په کېکاګلو سره مونږ په خدمت کې یوو، لږ وروسته یې ټولو ته د ملاوستنی (کمربند) تړلو لارښونه وکړه او ویې ویل:
لمړی خپل ملاوستنی (کمربندونه) وتړئ چې الوتکه، الوځي!



د الوتکې د آکسیجن، هوا سوړ والي او غږ کنټرولولو سیستم انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د الوتکې ملاوستني ( کمربند) تړلو انځور



د الوتکې ملاوستنی ( کمربند) تړلو لاربښود انځور

ټولو ملاوستني وتړل، ستيورډيسو خپل لټون پيل کړ او ټولوته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د الوتکې د عملې د لارښونې سره سم عمل وکړئ.
بيا الوتکې د ځغاستې سړک کې پر منډو پيل او له ځمکې اوچته شوه، سفدر چې لمړی ځل يې و، د الوتکې کړکۍ ته نږدې ځای ور په برخه شوی و، د کابل خيرخانې مېنې کورنو ننداره يې کوله، بيا ورو، ورو الوتکه اوچتېده او د کابل د نورو سيمو په ننداره يې پيل کړ، کوم چې کوچني او کوچني کېده.
الوتکې دوې دورې د کابل په ښار و وهلې، خورا اوچته شوه او سفدر ته ځمکه ښه نه ښکارېده، يوازې شين آسمان او د لمر وړانګې يې تر سترګو کېدې.
الوتکه اعظمي لوړ والي ته ورسېده او د الوتکې عملې اعلان کړ:
الوتکه په عادي ډول الوزي، تاسو کولای شئ چې خپل ملا وستني خلاص او له تشنابه هم استفاده کولای شئ.
لږ وروسته د الوتکې خدمه مسافرو ته ناشتا، چای، قهوه، اوبه، کوکاکولا او فانتا راوړل، بيايې نويو مسافرو ته يې د ميز د خلاصولو او ګټې اخيستنې، لارښونه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library





د الوتکې د سپټونو(ناستې ځای) انځور

بیا وروسته یې ټول کارول شوي لوښي بېرته غونډ کړل، لږ وروسته یې اعلان وکړ:
مونږ د افغانستان د سرحد نه تېر او د ازبکستان خاورې ته د ننه شو، د څو دکیکو مزل نه یې بیا اعلان کړ:
الوتکه مخ په کته کېدو ده، خپل د ملاوستني وتړئ!
او لږ څنډ وروسته یې اعلان کړ :
تاسو کړکیو نه د تاشکند ښار ننداره کولای شئ، د هوا تودوخه اته دېرش درجې، لمردی او د مهمو ځایونو تکسي او بسنو لارښونه یې هم وکړه.

الوتکه د ځغاستې په سړک کیناسته او د ترمینل خوا ته روانه شوه، ترمینل ته د رسېدو وروسته ودرېده او بیایې اعلان وکړ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................................



د الوتکې د سيټونو(ناستې ځای) انځور

د تاشکند محترم مسافرين کولای شي د ترمينل د وتلو ځانګې او نور مسافرين د ګرځندوی سالون ته تشريف يوسئ.




د تاشکند د ښار نړيوال هوايي ډګر انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



.................................................................................



د تاشکند د بنار نړیوال هوایي ډګر انځور





د تاشکند د بنار نړیوال هوایي ډګر د سالون انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................

سفدر د نورو مسافرینو سره ګرځندوی سالون ته لاړ اوپه لاره کې د متحرکو زینو، برېښنايي پټلیو سره آشنا شو او یوه ګړۍ یې په سالون کې تېره کړه، بیا وروسته اعلان شو چې د مسکو د بنار مسافرین کولای شئ، الوتکی ته پورته شئ.



د تاشکند د بنار نړیوال هوايي ډګر د سالون انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د تاشکند د ښار نړیوال هوايي ډګر انځور

مسافرو الوتکې خوا ته حرکت وکړ او په نوبت سره الوتکې ته پورته او بیا په خپلو ځایونو کېناستل، وروسته نوي مسافرین تاشکند د ښار نه الوتکې ته پورته شول، بیا الوتکې ستیورډیسو د کابل ښار په شان اعلانونه وکړل او مسافر یې مهمو ټکو ته زیر کړل.

الوتکه واولوته او د مسکو پر لور یې حرکت وکړ، په لاره کې مسافرو ته د ماښام ډوډۍ ورکړشوه، وروسته له شپږو ساعتونو الوتکه د مسکو د شریمیتوا نړیوال ډګر ته ورسیده، ښار نه معلومیده او تیاره وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................




مسکو د ښارشریمیتوا نړیوال هوایی ډګر انځور




مسکو د ښارشریمیتوا نړیوال هوایی ډګر انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوتکه وروسته د کیناستو ترمینل ته نږدې شوه او ودرېده.
د الوتکې مسولینو د روازه خلاصه او په دهلیز کې د خدای پامانۍ په خاطر ودرېدل، د خلکو سره یې خدای پاماني کوله او هر یوته یې ویل:
ښه وخت!
ښه ژوند!
مونږ د ښار ښکلاو نه ګټه پورته کړئ!
بیا سفدر هم د الوتکې نه د باندې او بل دالان (دهلیز) ته ننوت کوم چې یې په لمړی ځل ولید، بیا د دالان (دهلیز) د ختمېدونه ترمینل ته ورسېد.

هلته لاربنود ورته و ویل:

دلته ودرېږه تر څو ټول نوي زدکړیالان ټول، بیا وروسته به یو ځای ښار ته لاړ شو.

هغه و ویل:
سمه ده!
زدکړیالان ټول سره راټول شول او لاربنود ورته و ویل:
زما په سې راشئ!
هغوی ټول لمړی د بکسونو د اخیستو ځای ته لاړل بیا وروسته لاربنود ورته د بکسونو اخیست لاربنونه وکړه.
ټولو خپل بکسوونه واخیستل او یو ځای ودرېدل.
شپه وه، د ترمینل څراغونه ډیر روښانه او د باندې و دانۍ نه په سترګو کېدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library






مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د ننه انځور

د الوتکو د الوتو او کیناستو غږونه تر غوږو کېده، بیا دوی ته لارښونه وشوه چې د وتلو ګرځندوی سالون ته لاړ او د بس راتګ پورې انتظار وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د بکسونو اخیستو انځور



مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د ننه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library




ټول نوي زدکړیالان هلته راټول شول او لاربښود ورته و ویل:

لاندې تل کې تشنابونه دي.

تاسو کولای شئ ترې ګټه واخلئ!

سفدر هم لاندې کوز شو او تشناب ته لاړ، هغه د تشناب نه د ګټې اخیستنې په هکله پوهېده، ځکه چې یې په کابل ښار کې ژوند کړی و.

بیا وروسته له تشنابه و وت او د لاس مینځلو لوښي ته لاړ ترڅو لاسونو پریمنځي.



مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د ننه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخوا، دیخوا یې وکتل، د لوښي په سر یې د اوبو ګوتکونه و نه لیدل او حیران شو چې څه رنګه له لوښی ګټه واخلئ.



مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د ننه انځور

هغه حیران ولاړ و، یو کس راغی او لاس یې یوې علامې ته نږدې او اوبه راغلې، سفدر په خندا او له ځانه سره یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسکو ښار د شریمیتوا د ترمینل د تشنابونو انځور

دا دی!

بل چل دې هم یاد کړ.

د دسمال په لټه کې شوچې خپل لاسونه پرې وچ کړي، بیا یې یوه بکسه د لاس مینځلو لوښي سره ولیده او په زړه کې یې تېرشوه:
کېدای شي دا هم د یو څه له پاره وي، ځکه کومه لیکنه پرې نه ښکارېده، بیا بکسې ته نږدې شو، او ویې کتل چې کوم ځاي کې یې بټنه وي او تسټ یې کړي.

شاو خوا یې وکتل او کومه بټنه یې و نه مونده، بیا یې سر د لاندې کړ چې و ګوري، کومه بټنه د بکسې لاندې نه وي، سر یې ټيټ کړ په همدې وخت کې ګرم باد پو شو، هغه ژر سر لرې کړ بیا ماشین کار پرېښود.

(c) ketabton.com: The Digital Library





لاس وچلو ډبې انځور

بيا يې لاس ور دمخه کړ، ماشين بيا ګرم باد پو کړ، سفدر چې لږ ويرېدلی و، خوشحاله شو او له ځانه سره يې و ويل:

دا دې بله خوشحالي!

لاسونه يې وچ کړل، بيا يې ګړۍ ته وکتل، او په ځغاستو پاس وخوت تر څو پرې نا وخته نه شي، پاس ورسيد، د خپل بکس خواته کيناست او د خلکو د وتلو او ننوتلو په ننداره شو.

عجيبه دروازه ته يې پام وګرزېد، چې په خپله خلاصېده، سفدر حيران شو او دروازې خواته روان شو، تر څو وګورئ څوک دروازه خلاصوي او بيا يې بېرته تړي، دروازه شيشه يې وه او کس چې دروازه يې تړله او خلاصوله په سترګو نه ليدل کېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................



شریمیتوا د ډګر اتومات دروازې انځور

هغه بېرته خپل ځای ته راغی او یو بل افغان زدکړیال ته یې و ویل:
عجیبه دروازه ده، خلاصه اوتړل کیږی مګر کس یې نه ښکاري.
هغه هم متوجه شو او ویې ویل:
راځه چې وړاندې لاړ شو او د نږدې یې وګورو.
هغوی وړاندي لاړل او دروازې ته څېرمه ودرېدل.
خلک وتل او ننوتل، دروازه خپله خلاصېده او تړل کېده.
بیا سفدر هغه افغان زدکړیال ته و ویل:
ته دلته اوسه زه د باندې ګورم، کېداې شي کس د باندی نه دا کار وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ودرېد او سفدر دروازې ته نږدې شو، په دې وخت کې دروازه خلاصه شوه او هغه د دروازې نه و وت.
هرې خواېې وکتل او کوم کس يې ونه لید، بيا بېرته دروازی ته نږدې شو، دروازه په خپله خلاصه شوه او سفدر د ننه شو، بيا دوې ځل يې دا کار وکړ، کوم بدلون په کې را نه غی.
پوه شوه چې دا دروازه هم اتومات ده.

هغه افغان زدکړيال ته و ويل:
دلته ټول شيان اتومات دي.
افغان زدکړيال چې په لمړي ځل له هېواده د باندي سفر کړې و په خندا شو او ويې ويل:
دلته هر څه ټوپير لري، لمړی باید پوښتنه وکړو بيا عمل وکړو، تر څو چې څه شی خراب او دهیواد نوم بد نه کړو.
سفدر و ويل:
هو!
دا ښه سوچ دی؛
بيا په دې وخت کې لاربښود غږ کړ:
الکانو!
دلته راشئ.
تاسو موټرچمتو (تيار) او دروازې شاته ولاړ دی.
خپل بکسونه او کڅوړې(بيکونه) واخلئ!
موټر ته د ننه شئ!
هغوی خپل بکسونه او کڅوړې (بيکونه) واخيستل او موټر خوا ته روان شول، په نوبت سره موټر ته وختل، بيا لاربښود لېست ولوست، ټول کسان حاضر ول، بيا يې چلونکي ته و ويل:
حرکت وکړه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



چلونکي حرکت وکړ؛

سفدر د کړکۍ خواته ناست و، او د کړکۍ شیشه یې خلاصه کړه، هوا ډیره ښکلې وه، د کابل او تاشکند په څېر ګرمي نه وه، د پسرلي په شان هوا ښکارېده.

شپه وه او څه نه ښکارېدل، موټر په چټکتیا روان او له دښتو، ځنګلونو نه و وت او ښار ته نږدې شو.

په دې وخت کې د لوړو ودانیو څراغونه ښکارېدل او سفدر داسې اوچتې ودانې نه وې لیدلې.

موټر یوې ساحې ته لاړ او د ودانیو منځ ته ورسېد، بیا لږ وروسته یې موټر د یوې ودانۍ خواته ودراو، لارښود و ویل:

الکانو له موټر کوز او د ودانۍ مخې ته انتظار وکړئ، بیا لارښود و دانۍ ته د ننه شو، لږ ځنډ وروسته راغی او الکانو ته یې و ویل:
د نومونو په مطابقت سره سم ټاکلي پوړ او کوټو ته لاړ شئ، د هر پوړ مسول کس تاسو سره مرسته کوي، هر څوک د لېست سره سم خپل ټاکل شوي پوړ او کوټوته لاړل، بیا وروسته لارښود راغي اوټولو ته یې و ویل:
ښه شپه!
سبا به سره وینو، تر څو چې زه نه وم راغلی تاسو به چېرته نه ځئ.
الکانو و ویل:
سمه ده!
تا سو ته هم ښه شپه!
هغه و ویل:
مننه کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا لاړ.
زدکړیالان ډیر ستړی شوي ول او په خپلو ټاکلو ځایونو کې بیده شول.
سهار اته بجې شوې.
لاربښود راغی.
بیا د هر پوړ مسول، الکان یې ټول کړل او هر یو ته یې یو کوچنی ټکټ ورکړ او هغوي ته یې د سهار د چای څښلو لار ښونه وکړه، زدکړیالان ټول د ډوډۍ سالون ته د ننه شول او ورته لار ښونه وشوه چې په کرښه ( لین یا قطار) کې ودریږي.

هغوی په کرښه (لین یا قطار) کې ودریدل بیا لاربښود ورته و ویل:
لمړی پطنوس واخلئ بیا هګې، هلوا، کچالو، پیروی، او هر څه چې په ویټرین کې وینئ، کولای شئ چې واخلئ، په مېز کې کېنئ او و یې خورئ.

هغوی دا کار وکړ بیا لار ښود ورته و ویل:
څوک چې خواړه خلاصوي کولای شي خپل پطنوس ټاکلي ځای ته ورسوي او هلته یې په مخصوصه کراچۍ کې کیږدئ.
الکانو و ویل:
پوه شوو.
بیا لاربښود و ویل:
دا هم تاسو د غرمې د دوډۍ ټکټ.
لاربښود ټکټونه و ویشل او ورته یې و ویل:

د ډوډۍ وخت له یوې بجې نه تر دوې بجو پورې دی، کوښښ وکړئ په ټاکلي وخت ډوډۍ ته راشئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډوډۍ نه وروسته مونږ د ښار یو پروګرام لرو، چې تاسو د ټرافیکي اشارو، موټرو او مټرو سره معرفي او بیا وروسته یو پارک ته، وخت تېرولو د پاره لاړ شو.
الکانو و ویل:
سمه ده!
لاربنود لاړ او الکان هم خپلو کوټو ته لاړل، کړکیو ته نږدې شول او هرې خوا په کتلو یې پیل کړ.
په خپل منځو او نورو زدکړیالانو سره یې په روسي ژبې خبرې پیل کړې.
غرمه او نږدې یوه بجه شوه، سفدر ډېر وږی شوی و، او نور افغانانو ته یې غږ کړ:
راځئ!
ډوډۍ ته لاړ شو!
نور زدکړیالان هم را ټول او مخ په ډوډۍ خونې یې حرکت وکړ.
هغه نورو ته هم و ویل:
خپل ټکټونه واخلئ.
هغوی ټکټونه واخیستل او ډوډۍ خونې ته لاړل، اوس د ډوډۍ په اخیستلو یوه شوي ول.

ډوډۍ نه وروسته هغوی بېرته خپلو کوټو ته ستانه شول اود لار ښود په انتظارکې شول.

دوې بجې شوې، لاربنود راغی، ټول یې سره راټول او ورته یې هدایت وکړ چې موټر ته وخېږی، کوم چې د ودانۍ مخې ته ولاړ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکان موټر ته وختل او هر څوک په خپله خوښه ځایونو کې کیناستل، سفدر هم یوې څوکې کې چې کړکۍ ته جوښته وه، کیناست تر څو د ښار ننداره وکړئ.

موټر حرکت وکړ او ښار مرکزي سیمې خوا ته روان شو.
سفدرلوړ پوړې ودانۍ و لیدې او په بل افغان زدکړیال چې په خوا کې یې ناست و، غږ کړ:
ګوره !
دا ودانۍ زمونږ تر سینمایې پامیر او سیلو نه هم اوچتې دي، که چیرې د چا په سر خولۍ وي او د ودانۍ سر خواته وګورئ، هرو مرو خولۍ یې له سره غورځیږي.
هغه و ویل:
هو!
همداسې ده!
په رښتیا چې ډیرې اوچتې ودانۍ دي.

یوه ګړۍ په ښار کې وګرځېدل او لار ښود به دوی ته د سړکونو نومونه، ترافیکي اشارو سیستم او د سړک نه تیریدو چل ښوده.

بیا وروسته یوی ودانۍ ته نږدې، پیاده رو ته موټر ودرېد، لارښود غږ کړ:
له موټره کوز شئ!
یوې خوا ودریږي!

بیا به یو ځای مترو کې لاړ شو چې د ځمکې لاندې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر سوچ وکړ چې دا به د کابل په شان ځمکې لاندې لار (زېر زمیني) وي چې په ټول افغانستان کې هغه وخت یواځې په ده افغانانو سیمه کې شتون درلود.
کوم وخت چې مترو ته ننوتل، ویې لید چې ډېر لوی سالون دی او څه ماشینونه ښکاری چې خلک په کې پیسې اچوي، دننه کیږي او را وځي، سفدر حیران شو چې دا څه بلا ده، کوم ځای ته راغلو، دا خو د کابل د ځمکې لارې غوندې نه ده.




مسکو ښار د مترو ترمینل انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسکو ښار د مټرو ترمینل د باندې انځور



مسکو ښار د مټرو ترمینل د ننه انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسکو د ښار د مټرو ترمینل  د زینو انځور



مسکو ښار د مټرو ترمینل  د زینوانځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






مسکو ښار د مترو ترمینل  د ننوتلو د اجازی ماشین، انځور



مسکو ښار د مترو ریل ګاډی لارې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





مسکو ښار د مټرو زینی انځور



مسکو ښار د مټرو ریل ګاډی دالان انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................................


مسکو ښار د مټرو ریل ګاډی انځور

بیا لاربنود و ویل:
د دې له پاره چې د مترو، اډو څخه استفاده وکړو، باید په دې ماشینو کې پیسې واچوو او ترې تېر شو، بیا به په برقي زینو کې د ځمکې تل کوز شو، چېرې چې ریل ګادي ځي او راځي.

لاربنود هغوی ته د تېرېدو چل و ښود او هر یو کس ته یې یو پنځه کپیکه (روسي ماتې پېسی نوم) د اوسپنی پیسې ور کړې.

هغوی د هدایت سره سم کنټرول د ماشین نه تېر شول او پر پټۍ ودرېدل، څو ثاني وروسته پټۍ په زینې بدله شوه او د ځمکې تل ته یې حرکت وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ځنډ وروسته ټول د ځمکې تل ته ورسېدل او لاربنود غږ کړ:
دېخوا را ټول شئ!
تاسو ته لاربنونه کوم!
الکان یوې خواته غونډ شول او لاربنود ورته د مټرو نقشه ورکړه او ویې ویل:
دا دي!
د مټرو نقشه له ځانه سره واخلئ او وګورئ، دلته یو دایروی سړک دی، نور سړکونه د مرکز نه تېرېږي، هر سړک (مسیر) ځانته نوم لري، او مونږ باید په دغه قطار کې و خېژو چې اسماعیلوف پارک ته مو رسوي.
لار ښود ډېره کړه:
دغه تم ځای (ایستګاه) نمره دوې یادېږی.
چلونکي د هرې اډی (تم ځای) نوم اخلي او وایي:
دا............ اډه ده اوبله اډه ............. نومېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





لړ زند وروسته هغوی نومونړي اډې ته و رسېدل او لاربنود غږ کړ:
کوز شئ!
ټول یوې خوا ټول شئ!
بیا يې و ویل:
په دې زینې کې وخیږئ!
بیا وروسته په پای کې، سالون کې ودرېږئ.
زه تاسوته وایم چې په کومه لار و وځو.
هغوی و ویل:
سمه ده!
وروسته ټول په پاسني (برسېرني) سالون کې ټول شول، لاربنود
راغی او اشاره يې وکړه چې په دې خوا و وځو.
الکان و وتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاربنود و ویل:

ما په سې راشئ!

لمړی لاربنود هغوی د اسماعیلو فسکې کمپلکس ودانی چې نړیوال سپورتي سیالیو(مسابقو) له پاره جوړ شوي ول، بوتلل، له ودانیوسره یې وپېژندل او د ځو دکیکو له پاره شاو او خوا وګرځېدل.



مسکو ښار د اسماعیلوفسکي د نړیوال سپورتي سیالیو ودانیو کمپلکس انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






مسکو ښار د اسماعیلوفسکي د نړیوال سپورتي سیالیو ودانیو کمپلکس انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................................................................................

بیا وروسته لاربنود و ویل:
راځئ !
اوس پارک ته ځو.
هغوی د لاربنود پسې لاړل او اسماعلیوفسکي پارک ته ننوتل.
ډېر لوی پارک و، هرې خوا شین، فوارې او د اوبو ډنډونه ول.
خلوکو په کیښتیو کې کولای شو و ګرځي، ژوی او مرغان هم لیدل، کېدل.
ډېره هوسا او ښکلی طبیعت و.
هغوی تر ماښامه چکر و واهه، بیا لاربنود و ویل:
راځئ!



د اسماعیلوفسکي د پارک انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د اسماعیلوفسکي د پارک انځور



د اسماعیلوفسکي د پارک انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به بېرته هستوګنځي ته لاړ شو چې د ماښام د ډوډۍ وخت دی.
هغوی بیرته د بس په مرسته هستوګنځی ته لاړل.
هغوی ټول هستوګنځی ته د ننه شول او لارښود ټولوته د شپې د ډوډۍ، سهار چای او غرمې ډودی، ټکټونه ورکړل او و یې ویل:
سبا چېری مه ځئ!
کېدای شي هر څوک خپلو ښارونو ته سفر وکړئ.
الکانو ومنله او ویې ویل:
سمه ده!
لارښود خدای پاماني واخیسته او ویې ویل:
خدای مو تل خوشحاله لره!
تل بري اوسئ!
بیا لاړ.
الکان ډوډۍ سالون ته د ننه شول او د ډوډۍ خوړلو وروسته، بیا هر څوک خپلو کوټو ته لاړل.
ماسخوتن و، سفدر هغه افغان زدکړیال ته و ویل:
ټلویزیون کوټې ته ځو او که د باندې؟
هغه و ویل:
ستا خوښه!
سفدر و ویل:
راځه د باندې به و وځو.
هغه و ویل :
سمه ده!
هغوی د باندې و وتل.
د یو کس یې و پوښتل:
دلته د مسکو دولتي پوهنتون ودانۍ چېرې ده؟
هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځئ!
زه به یې در وښیم.
په لاره کې هغه د دوی نه پوښتنه وکړه:
له کوم هېواده راغلي یاست؟
هغوی و ویل:
له افغانستانه.
بیا یې و ویل:
ستاسو هېواد کې جګړه ده؟
هغوي و ویل:
هو!
زمونږ د خاورې دښمنان خورا ډېر دي.
بیا یې و ویل:
تاسو باید کوښښ وکړئ چې خپل هیواد ودان کړئ.
هغوی و ویل:
هرو مرو!
بیا لږ مزل یې وکړ او ویې ویل:
ښی لاس ته وګورئ، هغه لوړه ودانۍ د مسکو دولتي پوهنتون ودانۍ ده، تاسو کولای شئ د نږدې یې وګورئ.
د ننه کیدای نه شئ ځکه چې شپه او دانۍ تړلې دي.
بیا یې هغوی ته و ویل:
نور څه خدمت کولای شم:
هغوی و ویل:
مننه کوو!
کس بېرته وګرځېد، سفدر او بل افغان زدکړیال، پوهنتون خواته روان شول.
د پوهنتون تر مخه لوي سړک و، او دوی باید د هغه تېر شوي وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی د لمړي سړک نه واوښتل او منځني سړک ته نږدې او ویې غوښتل چې له سړکه واوړي (تېرشي).
لمړی یې ښی اوبیا یې کیڼ خوا ته وکتل، ګاډي (موټر) نه ښکاریدل، بیا په سړک کې ننوتل.
په دې وخت کې د ترافیک شپېلی شو.
هغوي ودرېدل او یې کتل، ترافیک نه ښکاریده.
بیا یې حرکت وکړ.
بیا د ترافیک شپېلي غږ شو.
هغوی ودرېدل، په دې وخت کې یو تن ترافیک د خپل موټر سایکل سره د دوی خواته ودرېد.
لمړی یې عسکري سلامي و وهله، بیا یې دوی ته و ویل:
بیرته راشئ!
هغوی بیرته د سړک غاړی ته راغلل.
ترافیک د هغوی نه و پوښتل:
د کوم ځای یاست؟
هغوی و ویل:
د افغانستانه.
بیا یې و ویل:
چیر ته زدکړې کوئ؟
هغوی و ویل:
تر اوسه نه پوهېږو، کېدای شي سبا به روښانه شي.
بیا یې و پوښتل:
اسناد مو کتلی شم؟
هغوی و ویل:
زمونږ اسناد د مسول کس سره دي.
بیا یې و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې کېږی چې مسکو کې ژوند کوئ؟
هغوي و ويل:
دوي، دري ورځې.
بيا يې و ويل:
تاسو پوهيږئ، چې د سړک له کوم ځايه تېر شئ؟
هغوی و ويل:
هو!
ترافيک و ويل:
نو بيا ولی د ځانګړي (مخصوص) ځای نه تېر نه شوئ؟
هغوی و ويل:
مونږ د قانون سره سم، لمړی مو ښي بيا موکيڼ خوا وکتل، ګاډی نه تر سترګو کېدل، ځکه مو پرېکړه وکړه (تصميم و نيو) چې له سړکه تېر شو.
هغه و ويل:
دلته قانون داسې دی:
لمړی بايد دسړکه د تېريدو ځای ته ځان ورسوئ، بيا ترافيکي څراغونه وګورئ، چې د پياده رو څراغونه شنه (زرغون) شول، کولای شئ چی له سړکه تېر شئ.
هغوی و ويل:
دلته څراغونه نه تر سترګو کېدل نو ځکه مو وغوښتل له سړکه تېر شو.
هغه و ويل:
دا دليل نه شي کېدای.
د دې له پاره چې مو لمړی ځل دی او د بله کبله دا چې تاسو د افغانستان (وروسته پاتې) هېواده ياست، نه مو جريمه کوم، د دې راز سر غړونې جريمه درې روبله ( د روسي پيسو نوم) چې تقريبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلور ډالره (امريکايي پيسو نوم) سره سمون خوري، بايد جريمه شوي وای.
بيا يې زياته کړه:
راځئ!
زه تاسو ته د تېرېدو ځای در ښيم.
ترافيک خپل موټر سيکل سره ورو، ورو په پياده رو کې روان او د هغوي سره په خبرو اترو بوخت شو.
لږ ځنډ وروسته ترافيکي اشارې ته ورسېدل او هغوی ته يې لارښونه وکړه چې، له سړکه تېر شئ.
هغوی له سړکه تېر او د مسکو د دولتي پوهنتون ودانۍ ته ورسېدل.
ودانۍ خورا ښکلې او تاريخي وې.
هغوی څو دکيکی هلته وګرځېدل بيا وروسته بېرته خپل هستوګن ځای ته ستانه شول.
شپه تېره شوه، سهار شو، دوی د سهار چای څښلو د پاره سالون ته لاړل، وروسته د چای نه بېرته خپلو کوټو (خونو) ته ستانه شول.
سفدر د هغه افغان زدکړيال سره، د يوی ګړی د پاره، تلويزيون په سالون کې ناست و، زړه يې په تنګ او بيا يې هغه افغان الک ته و ويل:
راځه د باندې و ګرځو!
هغه و ويل:
سمه ده!
دواړه له و دانۍ و وتل:
هرې خوا د منې ونې وې، دوی يو پياده رو خوا ته روان وو، سفدر هغه افغان زدکړيال ته و ويل:
ته ودرېږه زه يو څو منې وشکوم.
هغه ودرېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر د ونې څانګې ته لاس ور وړ او يوه څانګه يې په لاس کې و نيوه، غوښتل يې چې غټې منې ترې وشکوئ.
غټې منې لږ او چتې وي، هغه څانګه نوره هم ټيټه کړه، په دې وخت کې څانګه ماته او د پياده رو سره په ځمکه وغورځېده، سفدر او هغه افغان الک ډېر خپه شول، په دې وخت کې يوه زړه ښځه راورسېده او دوی ته يې و ويل:
ګورئ!
څومره بد کار مو وکړ!
د څو منو له پاره مو څانګه ماته کړه.
هغوي و ويل:
زمونږ هدف د څانګې ماتول نه و.
بيا هغه نږدې شوه.
منې يې له څانګې وشکوې او هغوی ته يې ورکړئ.
هغوی له شرمه منې په جبونو کې واچوی او هستوګنځي خواته روان شول، منې يې پريمنځې او په خوراک يې پيل کړل.
منې اومه وې او هغوی و نه خوړې.
بيا سفدر و ويل:
ته دلته اوسه، زه بازار ته ځم او منې پلورم (اخلم)، دواړه به يې وخورو.
هغه و ويل:
سمه ده!
احتياط کوه!
سفدر و ويل:
له پېښې نه تېښته نه شته.
بيا په خندا او د کوټې و وت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..............................................................................................

د ودانۍ نه و وت او د سړک خواته روان و که کومه هټۍ و وینې او منې وپېرې.
په لاره کې یې د خلکو یو کتار ولید چې یوې هټۍ ته ولاړ دی، لږ نږدی او دیو بوډا سړی نه یې پوښتنه وکړه:
دلته کومه هټۍ شته چی منی وپېرم؟
هغه و ویل:
هغه هټۍ کې، کولای شئ.
سفدر خوشحاله شو او د هټۍ خوا په چټکۍ روان شو.
د هټۍ مخی ته ودرېد او له جب نه یې پیسې را و ویستې او ویی ویل:
ماته دوې کیلو منې وتله!
هټیوال و ویل:
وار(نوبت) کې ودرېږه.
هغه لږ وروسته شو او ودرېد.
خلکو شور ماشور جوړ کړ او ویې ویل:
بې واري(بې نوبتي) مه کوئ!
ټول خلک کار لري!
د سفدر پام خلکو خبرو ته نه وه او سوچ یې کاوه، بل چا ته وایي.
په دې حال کې یوه بوډۍ ښځه را مخ ته شوه، سفدر یې د لاسه و نیو او ورته یې و ویل:
له ما سره راشه!
هغه و ویل:
څه خبره ده؟
بوډۍ ښځې و ویل:
ډېرې خبرې مه کوه!
راځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................................

بوډۍ، سفدر د کربښې (لین یا قطار) آخر ته بوته او ورته یې و ویل:
دلته ودرېږه!
دلته ستا ځای دی!
د دغې زړې ښځې خبرې ته ودرېږه، ورو، ورو مخته شه، کله چې واردې (نوبت دې) ورسېد، کولای شې منې واخلې.
سفدر چې په دې کار کې پړ شوی و، خورا خپه شو او له ځانه سره یې پرېکړه وکړه تر څو په وار کې ودرېږي.
نیمه ګړۍ وروسته، د سفدر وار ورسید، منې یې و پېرلې او هستوګنځي خوا ته روان شو.
کله چې کوټې ته د ننه شو،ا فغان زدکړیال و پوښتل:
ولې دې ځنډ و کړ؟
هغه د منو اخیستو لنډه کیسه وکړه، بیا دواړه په خندا شول، او ویې ویل:
دا افغانستان نه ده،
ژرنده کې د پلار ده هم په وار ده.
بیا یې و خندل.
غرمه شوه، بیا ټول زدکړیالان ډوډۍ خونې ته لاړل.
هغوی هم د غرمې ډوډۍ وخوړه او د تلویزیون سالون ته لاړل.
دوې بجې شوې، یو کس د تلویزیون سالون ته راغی او ویې ویل:
د سفدر په نوم څوک شته؟
سفدر را پورته شو او ویې ویل:
هو!
زه سفدر یم.
خیریت خو به وي؟
هغه و ویل:
هو !

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیریت دی!
هغه زیاته کړه او ویې ویل:
ته به د لوړو زدکړلو له پاره باکو ښار ته لاړ شئ.
اوس خپلې کوټې ته لاړ شه، بکس او نورشیان دې را واخله، زه به ستا له پاره دلته انتظار وکړم.
سفدر و ویل:
سمه ده!
سفدر خپلې کوټې (خونې) ته د ننه شو، کالې یې راټول، بکس یې واخیست او د تلویزیون سالون ته دننه شو.
کس ورته و ویل:
چمتو(تیار) یې چې د ریل ګاډو ترمینل ته لاړ شو؟
هغه و ویل:
هو!
کس و ویل:
اوس کولای شئ د نورو زدکړیالانو نه، خدای پاماني واخلئ.
سفدر د نورو زدکړیالانو او هغه افغان زدکړیال نه خدای پاماني واخیسته او د هغه کس شاته روان شو.
له ودانۍ و وتل.
د ودانۍ مخې ته تکسې موټر ولاړ و، چلونکی راکښته شو او د سفدر بکس یې د والګا موټر په ډاله کې کېښود.
سفدر خپل بیک په لاس کې و نیوه او موټر ته د ننه شو.
نیمه ګړی وروسته د ریل ګاډو ترمینل ته ورسېدل، چلونکي موټر د ترمینل ودانۍ عمومي دروازې ته ودراوه، هغه کس و ویل:
بکس او کالي دې را واخله او د ما پسې راځه.
هغه بکس او کالي له موټره کښته او د هغه کس پسې روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه سفدر د باکو ریل ګاډی ترمینل ته ورساوه اوریل ګاډی ته یې د ننه کړل.
هغه کس به ټکټ ته کتل او له یوه واګون نه بل ته ننوت، ترڅو چې لیکل شوی ځای یې د ټکټ سره و موند.
بیا یې سفدر ته و ویل:
دغه ستا کوټه ده، په کوټې کې څلور کټونه په دوو پوړونو کې دي.
ستا کټ هغه د دویم پوړ کټ دی، کولاې شئ خپل بکس دلته کېږدي.
دا دې هم د لارې ټکټ، پاسپورت او ویزه.
بیایې زیاته کړه، د لارې مزل دوي شپې او دوي ورځې دي.
دهر واګون په آخر کې تشنابونه او دلاس د وینځلو لوښي دي، او د ریل ګاډي په پاې کې څلېریشت ساعته د ډوډۍ سالون هم شته، ته کولای شئ چي په پیسو هر شی واخلئ.
دا هم لس روبله ستا سفر خرڅه ده، کوښښ وکړه چې ډیر مصرف و نه کړئ.
باکو ته چې ورسېدې، ستا د واګون سره به مسول کس ولاړ وي، تا به د پوهنتون تر لیلیو ورسوي او نور به د هغه هدایت سره سم مخ ته ځئ.
زما او ستا خدای پامان.
هغه کس له ریل ګاډی کوز شو.
سفدر هم خپل بوټان له پښو و ویستل او خپل کټ کې پرېوت.
په کټ کې، سریې کړکی خوا و، کولای شو د طبیعت ننداره وکړئ.
نیمه ګړۍ وروسته ریل ګاډی ډک او په حرکت یې پیل کړ، سفدر هم له کړکیه د باندې ننداره کوله.
ګاډی له ښاره و وت او شنو ځمکو او ځنګلونو کې روان و.
د سفدر مخې کټ کې یو ځوان الک چې باکو د ښار اوسېدونکې او په مسکو ښار کې زدکړیال و، د سفدر نه یې و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د کوم هیواده یې؟
سفدر و ویل:
د افغانستانه یم.
بیا الک و پوښتل:
با کو ښار ته د څه له پاره ځې؟
سفدر و ویل:
د زدکړو له پاره.
بیا هغه ځوان و پوښتل:
په کوم انستیټوت کې به درس و وایې؟
هغه ویل:
په دي کاغذ کې یې لیکلي دي.
هغه و ویل:
کاغذ راکړه چې ویې ګورم.
سفدر کاغذ ورکړ.
هغه کاغذ په آذري ژبه ولوست او ویې ویل:
ببښکه!
ساختماني انستیټوت.
ته به هلته د ماسټرۍ په کچه زدکړې وکړې؟
سفدر و ویل:
څه چې نصیب وي.
بیا هغه و ویل:
زه آذري او مسلمان یم، راځه چې سره ملګري شو.
سفدر و ویل:
سمه ده.
هغه و ویل:
زما نوم ایلچین دی او ستا نوم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما نوم سفدر دی.
هغوي يو بل ته د ملګريتوب لاسونه ورکړل.
هغه سفدر ته لږ آذري بغلاوه ورکړه او ويې ويل:
دا زمونږ د ښار مشهوره شېريني ده؛
وخوره!
ځومره خوږه ده!
سفدر شېرينی وخوړه او له ايلچين نه يې مننه وکړه.
بيا الچين و ويل:
راځه په دالان کې ودرېږو او د طبيعت ننداره وکړو، لاره هسې لويه ده.
سفدر و ويل:
سمه ده!
هغوي خپل بوټونه په پښو او له کابينه و وتل.
دواړه کړکۍ خواته ودرېدل او په ننداره يې پيل کړ.
ايلچين له جبه د سګرټو ډبلی و ويست او يو سګرټ يې په لاس کې و نيو او ورته يې اور واچوه، بيا يې ډبلی د سفدر خواته کړ او ويې ويل:
واخله!
ته هم سګرټ وڅکوه!
سفدر و ويل:
نه!
زه سګرټ نه څکوم.
ما هيڅکله سګرټ نه دي څکولي.
ايلچين و ويل:
واخله!
يو دانه تاوان نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر و ویل:
مننه کوم.
زه نه غواړم سګرټ څکولو سره عادت شم.
بیا ایلچین و ویل:
یوې دانې سره څوک نه عادت کېږي.

سفدر و ویل:
نه!
نه غواړم.
بیا ایلچین و ویل:
ستا خوښه!
هوا مخ په تیاره کېدو شوه.
ماښام نږدې شو.
ایلچین سفدر ته و ویل:
راځه چې رستورانت ته لاړ شو او د شپې ډوډۍ وخورو!
سفدر و ویل:
سمه ده!
دواړه د ریل ګاډی آخر واګون ته لاړل او رستورانت ته د ننه شول.
د زړه وړ ډوډۍ یې واخیسته او پر څوکې کیناستل.
لږ وروسته ایلچین و ویل:
دلته شراب هم خرڅیږی، کولای شئ و پیرئ.
سفدر و ویل:
نه!
زه په شرابو عادت نه یم.
زه یو مسلمان یم، مسلمانانو ته شراب حرام او شرعا اجازه نه لري.
ایلچین و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه په مسکو کې د شرابو په څکلو عادت شوم، بیا یې ګارسون ته غږ کړ او و یې ویل:
ماته یو پیک اودکا ( د روسي شرابو نوم) راوړه.
ګارسون ورته اودکا راوړه او هغه وڅښل.
بیا وروسته خپل واګون ته راغلل.
سفدر خپل ځای ته وخوت او ایلچین و ویل:
ته کولای شئ ویده شئ.
زه د باندی کړکې شا ته دریږم او سګرټ څکوم.
سفدر و ویل:
سمه ده!
بیا ایلچین و ویل:
ښه شپه !
په همدې توګه، دوي شپې او ورځې تېرې شوي.
بیا باکو ښار ته ورسید. ریل ګاډی ترمینل مخې ته ودرید او مسافرو په کته کیدو پیل کړ.
سفدر هم خپل بکس را واخیست، بیک یې غاړی ته واچوه او د واګونه کښته شو.
هغه مخ په ودانۍ حرکت پیل کړ چې یو کس ور نږدی شو او ویې پوښتل:
ته سفدر یې؟
هغه و ویل:
هو!
کس و ویل:
باکو ښار ته ښه راغلاست.
زه د ساختماني انستیټوت مسول یم، تا پسې راغلی یم چې لیلې ته دې لارښونه و کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هغه خپل د پېژند کارت سفدر ته ښکاره او ورته یې و ویل:
ما پسې راځه!
سفدر و ویل:
سمه ده!
هغو لمړی ریل ګاډي ترمینل ته د ننه او بیا د ښار د دروازې خواته روان شول، له دروازې و وتل او د موټرو تم ځای پر لور یې حرکت و کړ.



باکو ښار د ریل ګاډی ترمینل انځور

هغوی د ټکسی تم ځای ته نږدی شول؛
مسول کس ټکسی موټر ته اشاره وکړه او موټر نږدې شو.
بیا یې سفدر ته و ویل:
خپل بکس په ټولبکس کي کېږده او موټر ته وخېږه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر بکس په ټولبکس کې کېښنود او خپله موټر ته پورته شو، نیمه ګړی وروسته د ساختماني انستیټوت لیلی ته ورسید.
مسول کس و ویل:
دا نهه پوړیزه ودانۍ ستاسو لیله ده، بیا یې و ویل:
بکس دې کوز کړه!
سفدر خپل بکس کوز او مسول کس هغه ته لاربښونه وکړه چې لیلې ته د ننه شئ.
هغه لیلې ته د ننه شو.
مسول کس د لیلې مسول ته، سفدر ور وپېژاند او ویې ویل:
زما کار خلاص شو، ته سفدر ته دکوټې بند او بست وکړه.
د لیلې مسول و ویل:
د هغه د کوټې بند او بست شوی او زه به یې هغه خپل کوټې ته لاربښونه و کړم.
بیا مسول کس سفدر ته و ویل:
ښه وخت درته غواړم او د هغه سره یې خدای پاماني وکړه او له لیلې و وت.
سفدر د لیلې مسول سره په لفت کې پاس و خوت او هغه ځای چې له پخوانه، په نهم پوړ کې تعین شوی و، لاربښونه وکړه.
هغه د کوټې دروازه خلاصه کړه او دواړه د کوټې دالان ته ننوتل.
دلیلې مسول و ویل:
کېڼ خوا حمام او ښی خوا تشناب دی، دروازې یې خلاصې، څراغونه یې روښانه او بېرته یې مړه کړل.
بیایې د کوټې دروازه خلاصه کړه او سفدر ته یې و ویل:
الماری د پاسه د بکسونوځای دی.
او لاندی یې د کالیو او دریشیو ځای دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوټبندونه هم شته، بیا یې له کوچ سره آشنا کړ، کوم چې کولای شي د ورځې له خوا پرې کینئ او دشپې له خوا تخت کړی او ویده شئ (ګټه ترې واخلئ).
بیا د کوچ یوه برخه یې جګه کړه کوم ځای کې چې څادر(روجایي)، بالښت او کمپله وه، بیا یې زیاته کړه:
د بالښت پوښ او څادر (روجایې) په اونۍ کې یو ځل د ځانګړو کسانو له خوا بدلیږی (تبدیلیږي).
بیا یې زیاته کړه:
دا ستا د کوټې بالکن دی، دلته کولای شې، کالي اوار، کینئ او دکوچنۍ بحیرې (ډنډ) ننداره وکړئ.
بیا یې و ویل:
اوس راځه تاته پخلی خونه، د رسم او تخنیک خونه، تلویزیون خونه، د مجلس خونه او کتابتون و ښیم.
بیایې ورته د زینې، لفت ځای او د کثافاتو غورځولو ځای وښود.
وروسته یې، ورته د اړتیا (ضروري) نمروکارت ورکړ او ویې ویل:
په لمړي پول کې ټیلفونونه شته، کولاې شئ ترې کټه واخلئ.
بیا یې خدای پاماني واخیسته او روان شو.
سفدر بېرته کوټې ته راغی او له کوچ څخه یې کټ جوړ، یو څادر (روجایې) یې لاندې، بالښت یې سر ته کېښود، دروازه یې و تړله او په خپل ځای کې ویده شو.
شپه تېره او سهار شو، د محلی وخت لس بجې وې، وروسته له حمامه لمړي پوړ ته کوز او د ډوډۍ خونې ته ننوت، د سهار چای یې وڅښه او بیا د نورو افغان زدکړیالانو سره آشنا شو.
زدکړیالان خورا لږ ول او ډېرې یې خپل هیوادو ته د اوړي رخصتیو تېرولو له پاره تللي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر له یو بل افغان سره آشنا شو چې هغه هم د ساختماني په انستیټوت کې درس ویل او څو ورځې د مخه باکو ښار ته راغلی او په ښار کې لږ بلد شوی و.
هغه ورته و ویل:
اوس هوا ډېره توده ده، بیا مازیګر خواته به ښار ته لاړ شو، د ښار څنډې ته د کسپین بحیره ده، هلته تفریحي کښتۍ شته، مونږ به لږ چکر و وهو، بیا ماښام به بېرته راشو.
سفدر و منله او هغه ته یې و ویل:
زه اوس خپلې کوټې ته ځم، ته ما پسې راشه، زه بلد نه یم.
هغه و ویل :
سمه ده!
سفدر خپلې کوټې ته لاړ او بیا پرې خوب ورغی او بیده شو.
مازیګر شو، او هغه زدکړیال ده پسې راغی او دروازه یې و ټکوله، سفدر کلک بیده شوی و، بیا څو ځل یې دروازه وټکوله تر څو سفدر ویښ او دروازه یې خلاصه کړه.
هغه و ویل:
بیده وې؟
سفدر و ویل:
هو!
زه بیده شوی وم.
هغه و ویل:
کوښښ وکړه، ځان ویښ وساتې، دلته د هوا بدلون دی، بې ځایه سړی ته خوب راځي؛
کېدای شي د فشار ټیټ والی یې عامل وي.
بیا سفدر خپل کالي بدل (تبدیله) او دواړه له کوټې و وتل او د ودانۍ نه کښته شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په لاره کې د بس تم ځای تر رسېدو پورې، هغه سفدر ته د آذربایجان او د باکو ښار په هکله داسې لنډ معلومات ورکړل:
آذربایجان یو د قفقاز د مهمو، ښکلو او دلوړ اقتصاد لرونکو هېوادونه څخه دی چې، د کسپین بحیرې سره پروت او دوو نور قفاز جمهوریتونو لکه:
ارمنستان او گرجستان سره گډې پولې لري، کوم چې د دنیا مشهورو غرونو په شاو خوا کې شتون لري.
دا هیواد بر سېره پر یادو شویو هېوادو، له نورو هېوادونو لکه:
ترکې، روسې، ایران سره هم گډې پولې لري.
د دې هېواد پلازمینې نوم باکو ښار دی او خلک یې په آذري ژبه خبرې کوي.

بیا هغوی په یو بس کې کیناستل او ښار ته ورسېدل، هلته یې یوه ورځپانه واخیسته چې باکو د ښار په کې ټول معلومات لیکل شوی و او هغه سفدر ته د بحیری د غاړې څنګ ته په لاندې ډول ولوستل.
باکو ښار د کسپین د بحیرې خوا کې پروت او انکشاف یې کړی دی، خلک یې ډیر ښکلي، د ښونې او روزنې سره ډېره مینه لري.
ژبه یې خوږه، نرمه او ترکي ته ورته ده، خلک یې سپین پوستي او د ویښتانو رنګ یې تور دي.
باکو د آذربایجان پلازمینه او لوی ښار دی، او همدارنګه تر ټولو لوی ښار، د کسپین بحیرې او د قفقاز په سیمه کې دی.
باکو د بحر له سطحې څخه ۲۸ متره لاندې دی، چې دا په نړۍ کې تر ټولو ټیټ پروت ملي پلازمینه او همدارنګه د بحر له سطحې لاندې د نړۍ ترټولو لوی ښار جوړوي.
باکو د ابشیرون ټاپو وزمې په جنوبي څنډه کې د باکو په خلیج کې پروت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



باکو د آذربایجان اصلي ښار دی، دا په هېواد کې یوازینی ښار دی، او د هیواد د ټولو اوسیدونکو شاوخوا ۲۵٪ د باکو په ښار کې ژوند کوي.

باکو په دولسو اداري او ۴۸ ښارګوټو ویشل شوی دی.
د دې په منځ کې د باکو په ټاپوګانو کې ښارګوټي دي، او همدارنګه د Neft Daşları صنعتي تصفیه چې د کسپین سمندر کې د باکو ښار څخه ٦۰ کیلومتره د تیلو په شګو کې جوړ شوی.

زوړ ښار چې د شیروانشاه ماڼۍ او میډین څلی لري، دا ښار د اذربایجان علمي، کلتوري او صنعتي مرکز دی.
ډیری د پام وړ آذربایجان بنسټونه هلته خپل مرکزونه لري.
د باکو نړیوال سمندري سوداګریز بندر په کال کې د دوه ملیون ټنو عمومي او وچ بلک کارګو د لیږد وړتیا لري.
باکو د خپلو سختو بادونو له کبله مشهور دی، چې په خپل مستعار نوم، "د بادونو ښار" کې منعکس شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library





باکو د ښار، انځور

باکو د فارسي - عربي نوم باکو (Bākū) لاندې د اوږدې مودې تصدیق شوی.
لومړني عربي سرچینې هم ښار ته د باکوه او باکویا په نوم یادوي، چې ټول د فارسي نوم څخه راځي.
په نولسمه پیړۍ کې یوه مشهوره ایتمولوژي دا د پارسي باد کوبه (باد کوبه) څخه اخیستل شوې ده (باد کوب، چې معنی یې "د بادونو ښار" دی، د باد، "باد"، او کیوب مرکب دی، چې ریښې لري.

فعل کوبیدن کوبیدان، "ټو پونډ"، په دې توګه هغه ځای ته اشاره کوي چیرې چې باد به قوي او تیز وي، لکه څنګه چې د باکو قضیه ده، چې د ژمي سخت واورو طوفانونه او سخت بادونه تجربه کوي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا مشهور نوم (په عصري اذربایجان کې بدکوبا) په ۱۹ پیړۍ کې د ښار له پاره د مستعار نوم په توګه پیسې ترلاسه کړې (د بیلګې په توګه، دا په اکینچي کې کارول کیږي، ۱ جلد، ۱، مخ. ۱)، او د ښار په عصري کې هم منعکس کیږي.

مستعار نوم د "بادونو ښار "(آذربایجان ) : .Küləklər şəhəri یو بل او حتی لږ احتمالي لوک ایتیمولوژي دا نوم تشریح کوي چې د باغکوی څخه اخیستل شوی، چې معنی یې د "خدای ښار" دی.

باګا (اوس باغ) او کوه په ترتیب سره د "خدای" او "ښار" له پاره زړې فارسي کلمې دي.

د باغکوی نوم د بغداد ("خدای ورکړی") سره پرتله کیدی شي په کوم کې چې دا د پخوانی فارسي کلمه ده چې "دی" له پاره.
د شوروي د واکمنۍ پرمهال، ښار په آذربایجان کې په سیریلیک کې د "BAкы" په توګه لیکل شوی و (په داسې حال کې چې د روسیې املا "BAku"، باکو وه او اوس هم ده).
د فارسی - عربی توری و (u) څخه سیریلیک "ы" ته بدلون او وروسته، لاتیني "ı" کیدای شي د نورو اذربایجان کلمو سره پرتله شي (د مثال په توګه قاپو qāpū په زاړه فارسي - عربي املا کې د عصري آذربایجان qapı سره پرتله کړئ، "دروازه") یا په ضوابطو کې، لکه چې اکثرا په آذربایجان کې د غږ همغږي لیکلو له پاره کارول کېږده (کوم چې په عثماني ترکي کې هم دود و).
انجونې یې خورا ښکلې او د تورو سترګو لرونکې دي، چې د ققفاز (کوی قاف) په پریانو مشهوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



................................................................................




آذري نجونې په خپل ملي کالیو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................................



آذري نجونې په خپل ملي کالیو کې



باکو د زاړه ښار یوه څنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library





باکو د زاړه ښار یوه څنډه



باکو د زاړه ښار یوه څنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



**لرغونتوب**

په ګوبستان کې د رومن ډبرې ليکنه چې د ۸٤-۹٦ زيږديز کال پورې اړه لري، د اوسني باکو په سيمه کې د انسانانو د استوګنې نښې د ډبرې دورې پورې اړه لري.

د برونزو دورې ډبرې نقاشي بايل ته نږدې کشف شوي، او د زاړه ښار په ساحه کې د کوچني کب د برونزو شکل.

دا د دې لامل شوي چې ځينې يې د ښار په ساحه کې د برونزو د دورې د استوګنې د شتون وړانديز وکړي.

د نارداران سره نږدې، د اميد ګيا په نوم يو ځای د پخوانی تاريخي کتنې ځای لري، چيرې چې د لمر او د مختلفو څليو( برجونو) انځورونه په ډبره کې د يو ابتدايي ستور پوهنې ميز سره يو ځای شوي دي.

نورو لرغون پيژندنې کيندنو د عصري ښار په ساحه کې او د هغې په شاو خوا کې مختلف تاريخي استوګنې، اصلي معبدونه، مجسمې او نور اثار ښکاره کړي دي.

په لومړۍ پيړۍ کې، روميانو د ققفاز دوه کمپاينونه تنظيم کړل او هغه څه ته ورسېدل چې نن ورځ باکو دی.

ښار ته نږدې، په کوم کې چې نن ورځ ګوبستان دی، د ۸٤ څخه تر ۹٦ پورې د رومن ليکونه ژوندي پاتې دي - د يو ښار له پاره ځينې لومړني ليکل شوي شواهد دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اقليم**

باکو معتدل نيمه وچه اقليم لري (د کوپين اقليم طبقه بندي):
د تودوخې او مرطوب اوړي، يخ او کله ناکله لوند ژمی او ټول کال قوي بادونه لري.

په هرصورت، د ډيری نورو ښارونو په څير چې دا ډول اقليم ځانګړ تياوې لري، باکو خورا ګرم اوړي او د لمر وړ ساعتونه نه ګوري.

دا په لويه کچه د دې د شمالي عرض البلد له امله دی او دا حقيقت چې دا د کسپين بحر په څنډه، په ټاپو وزمه کې موقعيت لري.

باکو، او د ابشيرون جزيره چې په هغې کې موقعيت لري، د آذربايجان ترټولو وچه برخه ده ، دلته اوربښت په کال کې شاوخوا ۲۰۰ ملي ميتر يا لږ وي.
دا په لويه کچه د ققفاز د غرونو څخه د باران سيوري اغيزې له امله دی، په تور سمندر کې ورته عرض البلدونه په اوسط ډول ۲۰۰ تر۳۰۰ ملي متر يا ډير ترلاسه کوي.
د رڼا کلني باران ډيری برخه د دوبي پرته په نورو فصلونو کې پيښيږي، مګر د دې موسمونو څخه هيڅ يو په ځانګړې توګه لوند نه دی.

د شوروي په وختونو کې، باکو، د اوږدې مودې لمر او وچ صحي اقليم سره، د رخصتی ځای و، چيرې چې اتباع کولی شي د ساحلونو څخه خوند واخلي يا د کسپين بحيرې په څير د اوس ويجاړ شوي سپا کمپليکسونو کې آرام وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورته وخت کې باکو د کال په اوږدو کې د ډیر باد ښار په توګه پیژندل کیږي، له همدې امله د ښار مستعار نوم "د بادونو ښار" دی، او د ګیل ځواک بادونه، سړه شمالي باد خزري او ګرم سویلي باد ګیلاور دلته په ټولو موسمونو کې معمول دي.

په حقیقت کې، دا ښار د ژمي د سختو واورو طوفانونو او سختو بادونو له پاره مشهور دی.

د خزري سرعت کله کله ۱٤٤ کیلومتره فی ساعت (۸۹ میل فی ساعت) ته رسیږي، چې کولی شي فصلونو، ونو او د چت ټایلونو ته زیان ورسوي.

ژمی یخ او کله ناکله لوند وي، د جنوري او فبروري په میاشت کې د ورځني اوسط تودوخې سره په اوسط ډول ٤,۳ درجې وي.

په ساحل کې تودوخه په مکرر ډول د یخنۍ څخه ښکته کیږي او د سخت یخ احساس کوي.
د ژمي واوره طوفانونه کله ناکله وي؛
واوره معمولا د هرې واورې وروسته په څو ورځو کې خوري.

د باکو د نفوس لویه برخه د ازربایجاني توکمونو څخه جوړه شوې ده، او پاتې نور یې تالیش، روسیان، لیزګي او نور دي.

د نفوس ژوره وده د ۱۹ پیړۍ په مینځ کې پیل شوه کله چې باکو یو کوچنی ښار و چې شاو خوا ۷,۰۰۰ نفوس درلود.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نفوس بیا په ۱۸٦۰ کې د ۱۳,۰۰۰ څخه په ۱۸۹۷ کې ۱۱۲,۰۰۰ ته لوړ شو، چې باکو د قفقاز په سیمه کې ترټولو لوی ښار جوړ کړ.

باکو د خپل تاریخ په اوږدو کې په ځینو وختونو کې یو کاسموپولیټان ښار و، پدې معنی چې د آذربایجان توکمونه د نفوس اکثریت نه جوړوي.
جومات د اسلام د پیغمبر محمد د اولادې د قبر په سر جوړ شوی و.
د پیروانو ترټولو لویه ټولنه لرونکی دین اسلام دی.
د مسلمانانو اکثریت شیعه مسلمانان دي، او د اذربایجان جمهوریت له ایران وروسته په نړۍ کې د شیعه نفوس په سلو کې دوهم ځای لري.

د ښار د پام وړ جوماتونو کې د جمعې جومات، د بي بي حیبت جومات، محمد جومات او د تعز پیر جومات شامل دي.
په هیواد کې د بیلا بیلو توکمونو ترمنځ ځینې نور عقیدې شتون لري.
د اساسي قانون د ۴۸مې مادې له مخې، اذربایجان یو سیکولر دولت دی او مذهبي ازادي تضمینوي.

په مذهبي اقلیتونو کې روسي ارتودوکس عیسویان، کاتولیک لیوانتین، د جورجیا ارتودوکس عیسویان، البانیا - اودي اپوستولیک عیسویان، لوتران، اشکنازي یهودیان او صوفي مسلمانان شامل دي.

باکو د اذربایجان د کاتولیک اپوستولیک پریفیکچر څوکۍ ده.


زردشتیزم، که څه هم په اوسني وخت کې په ښار او د هیواد په نورو برخو کې له منځه تللی، خو په اذربایجان کې اوږد تاریخ لري او د

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................................

زردشت نوی کال (نوروز) په ښار او نورو برخو کې د اصلي رخصتۍ په توګه دوام لري.



باکو د زاړه ښار یوه څنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library





باکو د زاړه ښار یوه څنډه



باکو د زاړه ښار یوه څنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library





باکو د زاړه ښار یوه څنډه



باکو د زاړه ښار یوه څنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې سیمې که مین کیدل له یوی خوا آسانه او د بلی خوا ډېر سخت کار دی، که چېری ځوک یوځل د باکو جلۍ ته په خوړ.و سترګو وګوری ، حتما به پرې مین شی او داسې که چېرې، یوی او وروسته بلې جلۍ ته وګوری، تر پایه به مین نه شئ، دا ځکه چې یوه یې تر بلې ښکلې ده، په دې صورت کې به تاسو ته انتخاب ډېر ستونزمن وي او هیڅکله به مین نه شئ.

په ۱۹۸۳کال کې، خورا ډېر افغاني زدکړیالانو هلته زدکړی کولې چې شیمری یې تر ۷۰۰ کسانو هم ډېر و.
دغو زدکړیالانو د باکو د ښار په مختلفو پوهنتونونو، انستیټوتونو، او تخنیکومونو کې په لوړو او متوسطو زدکړو بوخت ول.

د هغو جملې نه هم یو د آذربایجان د انجینري انستیټوت و چې خورا ډېر افغاني او نورو اویاو هېوادونو زدکړیالانو د لیسانس، ماستری او دوکتورا په کچه په کې زدکړې کولې.

په هغه ځای کې داسې یوه رښت ( قانون) و، که چېری نوي زدکړیالان د نورو ملکونوڅخه باکو ښار ته د زدکړې له پاره راځي، باید هرو مرو خپلې ټولې لابراتواري معاینې تر سره کړئ، که چېری کوم مرض د هغه په وجود کې وي، باید لمړی درملنه یې وشئ، بیا کولای شي چې درسونه (سبقونه) پیل کړئ.

یوه ورځ چې هوا ګرمه او د دوبي ورځې وې، ساختماني انستیټوت د لیلیو مسولینو نوي رسېدلی زدکړیالان را ټول او هغوی ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................

درې ورځې وروسته د انستیتوت درسونه پیلېږی او ټول بهرني زدکړیالان اړین دي چې سبا سهار وختي د صحي معایناتو له پاره د انستیتوت کلینک ته لاړ شئ.

د ټولو زدکړیالانو له پاره موټر په پام کې نیول شوی دی، نو اړینه ده چی له خوبه وختي ویښ، د سهار چای د ځښلو پرته، د خپلو کوټو وځئ.
لوی موټر(ښاري بس) به هم ورسېږي، ټول نوی جذب شوي او باکو ته رسېدلي زدکړیالان دې په اته بجو د لیلې مخې ته ټول او په بس کې کېني، بیا به یو ځای لاړ شو.

ورځ تېره شوه او سهار شو، زدکړیالان هم د وعدې سره سم له خوبونو پاڅېدل، یو یو به له خپلو کوټو وتل او لاندې د لیلې مخې ته غونډېدل، بس موټر هم په ټاکلي وخت ورسېد او نږدې د لیلې دروازې خوا ته ودرېد.

د لیلیو مسولین هم تر ټولو د مخه اومې لیلې خوا ته د زدکړیالانو انتظار کاوه، او په لاسونو کې یې د زدکړیالانو لېستونه هم ول.
بیا مسول غږ کړ:
د هرې لیلې زدکړیالان دې په جلا، جلا توګه ودریږئ، بیا د زدکړیالانو استازي و ویل:
تاسو د خپلو زدکړیالانو د راټولولو او کرښه (لین) کولو کې مرسته وکړئ.
بیا د هغوی مشر راغی او نورو ته یې و ویل:
د خپلو لېستونو مطابق د زدکړیالانو حاضري واخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هرې ليلې مسول د زدکړيالانو په مخ کې ودرېد او د نومونو په لوستلو يې پيل کړ.
ټول زدکړيالان په ټاکلي ځای کې شتون درلود، يو زدکړيال نه و حاضر شوي، بيا د ليليو مسول و ويل:
د چا زدکړيالان غير حاضر دي؟
د اومی ليلې مسول و ويل:
زما يو نفر کمبود دی.
د ليليو مسول و پوښتل:
د کوم هيواد زدکړيال دی؟
هغه و ويل:
د افغانستان!
بيا د ليليو مسول و ويل:
هله ژر د هغه کوټی ته لاړ شه او له خوبه يې راويښ کړه!
هغه و ويل:
سمه ده!
په منډه ليلې ته وخوت او نهم پوړ ته د لفت په واسطه (ذريعه) وخوت او دهليز ته د ننه شو.
بيا د هغه د کوټې خوا ته لاړ او د دروازې زنګ يې و واهه.
چا ځواب ور نه کړ.
بيا يې زنګ و واه.
بيا هم ځواب رانه غی.
د ليلې مسول ډېر وار خطا شو او په منډه يې ځان لفت ته ورساو، لمړی پوړ ته کوز شو، هغه د ليلې د کنټرول خونې ته نږدې شو او مسول ته يې و ويل:
هله!
ژر سه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټیلفون ماته را کړه.
هغه و ویل:
خیریت دی؟
د لیلی مسول و ویل:
یو افغانی زدکړیال د خپلې د کوټې دروازه نه خلا صوی، باید پولیس ته زنګ و وهم چې، عاجله د امبولانس سره یو ځای راشئ.
هغه تیلفون ورکړ.
د اومې لیلې مسول پولیس ته زنګ و واه او د امبولانس غوښتنه یې هم وکړه.
څو دکیکې وروسته د سیمې پولیس او د څلورم نمبر روغتون امبو لانس ورسېدل، د اومې لیلې مسول د پولیسو موټر مخې ته ورغی.
د پولیسو افسر له موټره کوز او له هغه یې وپوښتل:
د اومې لیلې مسول ته یې؟
هغه و ویل:
هو!
زه یم.
بیا یې هغه ته و ویل:
اله !
مخکې شه!
د اومې لیلې مسول مخکې، پولیس او د امبولانس ډاکتران د تذکرې سره دوی پسې په منډو شول.
د اومې لیلې مسول لفت خوا ته منډه او نورو ته یې هم و ویل:
په لفتونو کې وخېږئ او نهم پوړ ته ځانونه ورسوئ.
هغوی هم په لفتونو کې وختل او د نهم پوړ په دهلېز کې پلي شول.
د اومې لیلې مسول و ویل:
ما پسې راشئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی ټول د لیلې مسول پسې منډې کړې او تر دروازې و درېدل:
د پولیسو افسر خپل همکار ته و ویل:
زه زنګ وهم او ته عکاسي پیل کړه!
هغه و ویل:
سمه ده!
افسر زنګ و واهه،
دننه څخه، کوم ځواب نه و.
بیا یې د لیلې مسول ته و ویل:
کیلۍ دې واخله او دروازه خلاصه کړه!
هغه کیلۍ د جبه و ویسته او د دروازې قلف ته یې ننه ویسته، دروازه یې خلاصه او پولیس ته یې و ویل:
مهربانی!
پولیس د کوټې دالان ته ننوتل او نورو ته یې هم غږ کړ.
راشئ!
بیا یې د کوټې دروازه خلاصه کړه او کوټې ته د ننه شول.
یویې اوبلې خوا یې نظر واچاوه، کوټه تشه وه او هغه الک په کې نه و.
بیا یې و ویل:
تشناب او حمام وګورئ!
د لیلې مسول د تشناب او حمام دروازې خلاصې کړې، څوک نه ول.
افسر و ویل:
عجیبه ده!
هغه څه شو؟
بیا یې د لیلې مسول ته و ویل:
دروازه وتړه اومهرو لاک یې کړه.
هغه هم سمدستي دروازه وتړه، مهرو لاک یې کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې و ویل:
راځئ !
کوز شو!
هغوی د لفتونو په وسیله لمړي پوړ ته کوز شول.
افسر د لیلې مسول ته و ویل:
د هغه د کوټې کیلۍ و ګوره!
هغه په ټاکلي ځای کې شته او که نه؟
مسول خپل لېست و کوت او د هغه د کوټې نمبر کیلۍ یې دکیلیو په ټاکلې ځایونو کې و لټوله، ګوري چې کیلۍ په خپل ځای کې ده.
ټول حیران شول.
افسر خپل مرکز ته مخابره وکړه.
بیا یې ټولو ته سپارښتنه (دستور) ورکړه چې هغه ولټوئ.
د لیلیو مسول و ویل:
راځي چې اوس د انستیټوت کلینک ته لاړ شو، کیداې شي هغه وختي کلینک ته تللې وي.
بیا مسول و ویل:
فکر نه کوم!
خدای وکړي چې هلته وي.
ټولو د کلینک پر لور حرکت وکړ او لږ زنډ وروسته هلته ورسېدل، هغوی لمړی د ثبت او راجستر خونې ته لاړل، بیا یې د ټست له پاره پنځه، پنځه کسه (نفره )هرې ځانګې ته د دوریې په ټوګه معرفي کړل.

سفدر دغاښونو ځانګې نه و وت او جراحي ځانګې خوا روان شو، په دې وخت کې د لیلیو استازي ورته پام شو او هغه خوا ته یې ځان نږدې او ویې ویل:
چیرته وې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ د تا له پاره ټوله لیلیه و لټوله او پولیسو ته مو هم خبر ورکړ،
هغه و ویل:
زه په خپل وخت راوتلی وم، نیمه ګړۍ مي انتظار وکړ، څوک معلوم نه شول، ځکه مې د کلینک پر لور حرکت وکړ، سوچ مې کاوه چې زه ناوخته پاڅېدلی یم او ټول له مانه مخکې کلینک ته رسېدلي دي.

کوم وخت چې کلینک ته ورسېدم صفا کار راته و ویل:
ته وختي راغلی یې، لږ انتظار وکړه تر څو ډاکتران راشئ.
لږ زنډ وروسته داکټران راغلل او ماته یې و ویل:
هو!
نن د نویو زدکړیالانو د معایناتو ورځ ده، بیا یې لېست وکوت او زما نوم یې په نښه کړ، د ثبتولو نه وروسته زما معاینات یې پیل کړ.
ما وپوښتل:
نور زدکړیالان ولې نه دي راغلي؟
هغې و ویل:
او س وختی ده.
هغوی به لږ وروسته راشئ.
بیا ما و ویل:
زما ګړی ښه کار نه کوي او که څنګه؟
هغی خپلې ګړۍ ته و کتل او بیا یې زما ګړی ته.
په خندا شوه او ویې ویل:
ستا ګړۍ د مسکو ښار سره یو شان ده، دلته ګړی توپیر لري.
سفدر و ویل:
ما نه تېروتنه (اشتباه) شوې او سوچ مې کاوه چې په ټول شوروي اتحاد کې به ګړۍ یو شان وي، ځکه ټول یو لوی هیواد دی.
بیا د لیلیو مسول و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه شو چې پیدا شوې!
مونږ ډیر منفی سوچونه کول او پولیس ته مو هم زنګ و واهه، بیا یې و ویل:
بیرته د نورو زدکړیالانو سره یو ځای لاړ شئ، مونږ به پولیسو ته ښه خبر(زیری) ورکړو، ته دې معاینات مخ ته یوسه.
هغه و ویل:
سمه ده!
سفدر خوشحاله شو او خپلو معایناتو ته یې دوام ورکړ، کلینک ټولې ځانګې درلودې، او ده هم کوښښ کاوه چې ټول معاینات خلاص او بلې ورځې ته یې پرې نهږدي.
سفدر د ارتوپیدي ځانګې نه خپل معاینات خلاص او د سترګو ځانګې ته نږدې شو.
د دې ځانګې خواته دوي ښکلې آذري نجونې په وار(نوبت) کې ولاړې وې.
سفدر ځانګې ته نږدې شو او ویې پوښتل:
تاسو وار(نوبت) کې ولاړ یاست او که د چا انتظار کوي؟
هغوی و ویل:
مونږ وار(نوبت) ته انتظار کوو.
سفدر د ځانګې دروازې ته نږدې او پر څوکۍ کیناست.
بیا نجونې سفدر ته نږدې او ویې پوښتل:
ته په کوم انسټیټوت کې تعلیم (تحصیل) کوې؟
هغه و ویل:
په ساختماني انسټیټوت کې.
بیا یې و پوښتل:
دا دې لمړی کال دی؟
هغه و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هو!
بیا یې و پوښتل:
چیرته ژوند کوې؟
د موسی بیکوا د ساختماني انستیټوت په اومه لیلیه، نهم پوړکې.
بیا یې وپوښتل:
د کوم هېواد نه یې؟
هغه و ویل:
د کوم هېواده ښکارم؟
بیا نجونو و ویل:
زمونږ په خیال (نظر)، تاسو د هند یاست.
هغه و ویل:
نه!
زه د افغانستانه یم.
بیا نجونو و ویل:
ستا خبره، د هندي فلم الکانو ته پاتې کیږي.
سفدر و ویل:
کېداي شي!
مګر زه افغان یم.
بیا نجونو و ویل:
مونږ هم د ساختمانی انستیتوت په معمارۍ پوهنځي کې درس وایو او په لمړي ټولګي کې یاستو.
سفدر و ویل:
ډیر ښه!
کیدای شي کوم وخت یو بل ته په مخه راشو؟
هغوی و ویل:
هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ او تاسو لکچرونه په یوې ودانۍ کې دي.
مګرعملي در سونه او لابراتوارونه مو جلا او په نورو ودانیو کې دي.
بیا هغوی د سفدر نه پوښتنه وکړه:
ستا نوم څه دی؟
هغه و ویل:
زما نوم سفدر دی، تاسو نو مونه؟
یوې و ویل:
زما نوم آزو ده.
بلې یې و ویل:
زما نوم زرو ده.
د آزو ویښتان لږ ژیړ، سترګې یې شنې، سپینه او روسانو ته ورته وه، مګر د زرو ویښتان تور او سترګې یې هم تورې وې.
سفدر و ویل:
مننه کوم.
بیا یې و پوښتل:
تاسو دواړه آذري یاست؟
هغوی و ویل:
هو!
بیا یې و پوښتل:
نو څنګه توپیر لری؟
آزو و ویل:
زما مور روسۍ او پلار مي آذري دی، مګر دزرو پلار اومور دواړه آذري دي، نوځکه د زرو سره لږ توپیر لرم.
بیا دواړه په خندا شوې.
سفدر هک پک شو او ویې ویل:
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې یو زدکړیال له معاینه خانې نه و وت او ویې ویل:
د چا وار(نوبت) دی؟
سفدر و ویل:
د نجونو وار او ورپسې زما وار دی.
نجنو و ویل:
سفدر میلمه دی، مونږ خپل وار هغه ته ورکوو.
سفدر و ویل:
نه!
لمړی ستاسو وار دی.
په دې و خت کې ډاکټر را و وت او ویې ویل:
ژر راشئ چې نن زدکړیالان ډیر دي.
لږ وروسته به گڼه گوڼه شي.
بیا یې سفدر ته و ویل:
ته راشه چې مسافر یې.
سفدر هم معاینې له پاره خونې ته داخل شو او لس دکیکی وروسته را و وت.
نجونو و ویل:
په خیر تیر شو؟
سفدر و ویل:
هو!
مننه کوم!
بیا نجونې د ننه شوې او سفدر بلې څانگې ته ننوت.
سفدر خپل معاینات بشپړ او د کلینک نه د باندې تر زیتون ونې پر څوکې کیناست او د نورو زدکړیالانو په انتظار شو، تر څو معاینات بشپړ او هغوی سره یو ځای لیلې ته لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه شوه او نورو زدکړيالانو هم خپل معاينات بشپړ کړل او ټول يوځای ليلې ته روان شول.
ځو ورځې تېرې شوې او درسونه پيل شول.
ليليه دومره لرې نه وه او تر انستيټوته شل دکيکی په پښولاره وه.
سفدر هم په پښو روان شو اوانستيټوت ته ورسېد، هغه د انستيټوت انګړ ته ننوت او له يوه الک نه يې پوښتنه وکړه:
ساختماني پوهنځي کوم دی؟
هغه و ويل:
زه نوی يم، زه هم انتظار کوم چې، کوم ځوک پيدا تر ځو تري پوښتنه وکړم.
سفدر و ويل:
ته د کوم هيواد يې ؟
هغه و ويل:
زه د کيوبا له هېواده يم.
بيا هغه و ويل:
ته د کوم ځاي يې؟
سفدر و ويل:
زه د افغانستانه يم.
ځو دکيکی وروسته يو بل افغان زدکړيال چې په لوړ صنف کې يې زدکړې کولې دوی ځنګ ته راغي او له سفدر نه يې وپوښتل:
ته افغان يې؟
هغه و ويل:
هو!
زه افغان يم.
بيا يې و پوښتل:
نوم دی څه دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ویل:
نوم مې سفدر دی.
بیا یې و ویل:
په کوم پوهنځي کې یې؟
سفدر و ویل:
په ساختماني پوهنځي کې یم.
بیایې و ویل:
مهال ویش( تقسیم او قات) دي اخیستی دی؟
هغه و ویل:
نه!
نن می لمړی ورځ ده، او بلد هم نه یم.
بیا هغه و ویل:
راځه چي د پوهنځي ریاست ته لاړ شو او د مهال ویش( تقسیم اوقات) پوښتنه وکړو.
سفدر و ویل:
سمه ده!
بیا دواړه ساختماني پوهنځي ته لاړل او دهلیز ته د ننه شول.
مهال ویش (تقسیم اوقات) په ځانګړی (مخصوص) ځای کې ځړول شوې (بند شوی) و، او هغه سفدر ته و ویل:
قلم او کاغذ واخله !
مهال ویش په کتابچې کې ولیکه!
هغه قلم او کاغذ له کڅوړې ویوست او مهال ویش یې ولیکه.
درسونه یې په بیلابیلو ودانیو کې ول.
لمړی درس یې په دې ودانۍ کې و، بیا ځلورم پوړ ته پورته شو او خپل درسي ټولګي ( صنف) یې و موند.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولګي ته ننوت او پر یوې څوکۍ کیناست.
ټولګي کې د بیلا بیلو هیوادونو الکان او نجونې وې.
څو دکیکې وروسته استاد ټولګي ته ننوت او ټولوته یې د نویو زدکړو پیل مبارکي و ویله.
بیا ځان یې معرفي او له زدکړیالانو یې وغوښتل تر څو خپل ځانونه هم معرفي کړي.
هر زدکړیال به له ځایه پاڅېده او ځان به یې معرفي کاوه، سفدر هم په خپل وار له ځایه پورته شو او ځان یې معرفي کړ.
درسونه په دې ودانۍ کې پای ته ورسېدل او ټول زدکړیالان اړین ول تر څو بلې ودانۍ ته لاړ شئ.
سفدر هم د نورو زدکړیالانو سره له ټولګي و وت اوبلې ودانۍ خوا ته روان شو.
په لاره کې یې هغه دوې نجونې ولیدې، له کومو سره چې په کلینک کې معرفي شوی و، هغوی سفدر ته سلام واچوه او سفدرهم د هغوی سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا یې سفدر ته د نویو درسونو پیل، مبارکي و ویله.
سفدر هم مننه وکړه او هغوی ته یې هم مبارکي و ویله، بیا هر څوک خپلې موخې پسې روان شول.
د نجونو به کله ناکله سفدر په بیلا بیلو و دانیو کې مخ ته ورته اوهغه ته یې سلام ورکاوه.
لمړی به آزو کوښښ کاوه چې سفدر ته سلام ورکړی بیا زرو.
یو کال تیر شو، سفدر ته هم اړینه وه د اوړي رخصتیو تېرولو او کورنۍ لیدو له پاره هېواد ته لاړ شي.
سفدر یوه ورځ مخ کې له تګه په تصادفي توګه آزو په دالان کې ولیده او هغې ته یې سلام ورکړ، هغې سلام ته یې وعلیکم و ویل:
بیا آزو و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وخت خپل هيواد ته ځې؟
هغه و ويل:
سبا له خيره!
بيا سفدر و ويل:
تا ته څه راوړم؟
هغې و ويل:
مننه کوم.
په خير لاړ شئ او په خير بېرته راشئ.
د تاسو په هېواد کې جګړه ده، کوښښ وکړه د ښار نه د باندې (اطراف ته) لاړ نه شئ.
هغه و ويل:
سمه ده!
مننه کوم!
حتماً!
بيا يې خداى پامانى واخيسته او ليلې خواته روان شو.
سبا ماسخوتن يې د نورو افغاني زدکړيالانو سره يوځاى هوايي ډګر ته روان او په الوتکه کې تاشکند ښار او بيا په بله الوتکه کې سها په اته بجو الوتنه وکړه او کابل نړيوال ډګر کې کوز شو.
هوا توده او هرې خوا دوړې وې، کابل ښار سپېره ښکارېده او خلک هم په مختلفو جامو کې ول.
چا ملي جامې، چا پطلون او دريشۍ اغوستې وې.
سفدر هم د نورو زدکړيالانو سره د کابل ښار له ترمينله و وت او کور خواته روان شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک چپ او غمناکه ښکارېدل، هرې خوا عسکر او نظامی وسایط په سترګو کېده، تلاشي (لټو) ګانې وې، عسکرو به د هر چانه د اسنادو پوښتنه کوله.
په ښار کې ګڼه ګونه وه، ښونځي پرانیستي ول، د نجونود کالیو رنګ تور او ټیکري یې سپین ول.

الکانو کوم ځانګړی (مشخص) یونیفورم نه درلود مګر ټول یې اړین ول چې کمیس او پطلون واغوندي.

په سینما ګانو کې هم د پطلون اغوستل اړین ول، هیچا حق نه درلود چې د ملی جامو سره سینما او یا نورو رسمی ودانیو ته ننوزي.

د سینما ګانو او عامه ودانیو تر څنګ د کرایي کمیسونو او پطلونونو بازار تود و.
سفدر چاته خپل د راتک ځانګړې نیټه نه وه ویلي، ځکه په هغه وخت کې اوسني موبایل ټیلفونونه او عصری تکنالوژي شتون نه درلود او په ناڅاپي توګه کور ته نږدې او دروازه یې وټکوله.
کوچنی ورور یې دروازې ته راغی او دروازه یې خلاصه کړه، ګوري چې ورور یې دی، ډیر خوشحاله شو.
د هغه سره یې روغبړ وکړ او د اوږې کڅوړه (بیک) یې ترې واخیست او بیا یې و ویل:
مورې!
لا لا مې دی.
سفدر په خیر راغی.
مور یې هم د کوټې و وته او هغه ته یې ښه راغلاست و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خپلې مور ته نږدې او د هغې لاسونه یې مچ او مور یې هم د هغه سر مچ کړ.
په دې وخت کې د سفدر نورې خویندې او ورونه راغلل او د هغه سره یې ستړي مشئ وکړه او بیا ټول کوټې ته د ننه شول.
سفدر په توشکه کیناست او ورور ته یې و ویل:
دا کڅوړه (بیک) دېخواه کړه؟
ورور یې کڅوړه سفدر ته نږدی کړه او سفدر هم د کورنۍ سوغات (تحفی) له کڅوړې و ویستل.
هغه خپل ورونو ته الوتکه، ریل ګاډی، توپ او خویندو ته هم عطرونه او د لوبو عصري سامانونه اخیستي ول.
هغه د غرمې ډوډۍ په کور کې وخوړه، خورا خوندوره وه، هر یو به ورته ویل:
وخوره!
ډوډۍ دې وخوره!
هغه و ویل:
بس ده!
زه لږه دوډۍ خورم.
بیا مور یې و ویل:
رښتیا یې ویلې دي، په وړی هېواد کې خلک لږ خواړه خوري.
ته هم په وړي هېواد کې په لږو خوړو بلد شوی یې.
سفدر و ویل :
زه لږ خواړه او څلور ځله یې خورم، د شپې ډوډۍ ماښام خورم، بیا لږ ګرځم او وروسته ویده کېږم.
د سفدر ملګري او خپلوانو به د هغه میلمستیا کوله او هغه به هم له ځانه سره سوغات لکه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطرونه، کلونيا او د ماشومانو د لوبو سامانونه ورکول.
رخصتئ په چټکئ سره ختمه شو او سفدر اړين و چې بېرته لاړ شئ.
دوې، درې ورځې يې په ښار کې سودا واخيسته او خپل د اړتيا وړ شيان يې پوره کړل.
آزو ته يې هم جرمني پنسلونه، پنسل پاک، د غاړې هار(لاکټ) او داسې نور د معمارئ شيان واخيستل.
څو ورځې وروسته يې د تګ وخت ورسېد او هغه هم د خپل بل ملګري سره چې په باکو ښار کې زدکړيال و، د کارنو بشپړولو او د ويزی کارنو د پاره خارجې، کار او ټولنيز، لوړو زدکړو وزارتونوته لاړ، بيا د آيرفلوت نمايندګی چې د ګلفروشي په کوڅه کې وه لاړ او د بېرته تګ، ټکونو وخت يې تازه او ثابت (معين) کړ.

دتګ ورځ را ورسېده، هغه هم د کورنئ ټولو غړو سره يې خدای پاماني وکړه او د خپل بکس او د اوږې کڅوړې ( بيک) سره له کوره و وت.

عمومي سړک خواته ملګری يې هم د ده په انتظارو، د هغه په رسېدو سره هغوی يوځای (شريکي) ټکسي موټر ونيو او هوايې ډګر خوا روان شول.

بيا هلته د بلې الوتنې په شان لمړی د کابل نړيوال ډګر نه تاشکند ته الوتنه وکړه او د تاشنکد په ښار کې دوي شپې او ورځې پاتې شول، دوی به د ورځې په ښار کې ګرځېدل او د شپې به هوټل ستنېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په آخره ورځ یې یو، یوغټ د ازبکستان ختکي هم وپېرل اوله ځانه سره یې با کو ښار ته یوړل.

سفدر د درسونو له پیل څخه څو ورځې مخکې رسېدلی و، او د درسونو پروګرامونو په اخیستلو یې پیل کړ، هغه به د نورو زدکړیالانو نه زدکړې کوي، ښه کتابونه یې له بازار نه پېرودل او هم یې له کتابخونې نه ګټه اخیسته.
څو ورځې وروسته درسونه پیل شول، او هغه هم انستیټوت ته لاړ، بیا نوی مهال ویش ( تقسیم اوقات) یاداشت کړ، د انستیټوت د پیل لمړۍ ورځې وې او ډېرې زدکړیالان په لارو کې ول، ټولګي هم پوره نه ول.
سفدر د یوې ودانۍ نه بلې ته لاړ او په لاره کې یې آزو ولیده، هغه سفدر ته ښه راغلاست و ویل، سفدر هم د هغې نه مننه وکړه او ورته یې و ویل:
سبا دې چیرته و وینم؟
هغې و ویل:
خیریت خو به وي؟
بیا یې زیاته کړه، که څه ویل وایې کولای شئ، همداوس یې راته و وایئ.
سفدر و ویل:
څه ویل مې نه درلود، ما د هیواد نه تاته څه سوغات راوړې دی، غوښتل مې تا ته یې درکړم.
آزو خوشحاله شوه او ویې ویل:
سوغات چیرته ده؟
سفدر و ویل:
هغه زما په کوټې کې ده، سبا به یې در ته راوړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې مننه وکړه.
سفدر و ویل:
سبا خو به انستیټوت ته راځې؟
هغې و ویل:
هو!
هرو مرو!
بیا سفدر و ویل:
چیرته به دې و وینم چې سوغات دې در کړم.
هغې و ویل:
په لمړی ودانۍ کې سبا درس لرئ؟
سفدر و ویل:
مهال ویش وګورم!
هغه له کڅوړې مهال ویش و باسه او ویې لید چې په دریم ساعت کې درس لري.
هغې ته یې و ویل:
هو!
په دریم ساعت کې.
آزو و پوښتل:
څویم پوړ؟
سفدر و ویل:
څلورم پوړ.
هغې و ویل:
سمه ده!
زه به په دالان کې ستا دراتګ انتظار وکړم.
سفدر و ویل :
سمه ده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر هم له هغې نه خدای پاماني واخیسته او لابراتوار تعمیر خوا ته روان شو.
درسونو د ختمیدو نه وروسته لیلې ته لاړ.
ماښام د ډوډۍ د خوړو نه ورسته د رسم وتخنیک اتاق لاړ تر څو خپله کورنۍ دنده بشپړه کړي.
تر ناوخته یې کورنۍ دنده تر سره کړه، بیا بیرته خپلې کوټې ته ستون او بیده شو.
سهار وختي له خوبه پاڅېد، د لمانځه نه وروسته یې خپل نور درسونه ګردان کړل او بیا یې د آزو له پاره راوړي سوغات په یوې ښکلې کڅوړه کې واچول او د میز پر سر یې کېښودل، ترڅو د تګ په و خت کې یې له هېره و نه وزي.
بیا یې خپل ورځني نوټونه او کتابونه راټول کړل.
د سهار د چای څښلو نه وروسته، خپل کالې یې بدله (تبدیله)، کڅوړه (بیک) یې واخیسته او د آزو د سوغات کوچنۍ کڅوړه یې هم په خپله کڅوړه (بیک) کې کېښوده.
بیا د کوټې نه و وت او درس ته لاړ.
دوي ساعتونه تېر شول او د دریم ساعت له پاره سفدر لمړۍ ودانۍ په لور حرکت وکړ.
په زینوکې و خوت او څرنګه چې څلورم پوړ ته ورسېد، د زیني په پای کې آزو ولاړه او د سفدر په انتظار وه.
سفدر آزو ولیده او هغې ته یې سلام واچوه.
هغې هم سلام ته وعلیکم و ویل.
بیا سفدر آزو ته و ویل:
راځه لږ د لارې نه لرې شوو.
هغوي د لارې نه لرې شول، بیا سفدر د هغې د سوغات کڅوړه و ویسته او هغې ته یې ډالۍ کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغې ډېره، ډېره مننه وکړه.
په دې وخت کې زرو هم ورسيده او آزو ته يې و ويل:
زه هم په سوغات کې شريکه يم، که نه بيا ټولو ته وايم.
آزو په خندا شوه او ويې ويل:
سمه ده!
سفدر چې ډېر شرمندوکی (کم جرات) و، ژر يې خدای پاماني واخيسته او خپل ټولګي ته روان شو.
د دوی تر مينځ سړه اړيکه وه او ازو سوچ کوه چې سفدر هم ور سره مينه لري، مګر نه شي کولای چې ورته و وايي.
هغې به سوچ کوه چې وخت ډېر دی او يوه ورځ به ورته و وايي او د واده وړانديز به ورته وکړئ.
وختونه تېرېدل او دوی په درسونو بوخت ول.
د آزو نيا په فارسي پوهېده او آزو ترې لږ، لږ فارسي زدکړې کوې.
يوه ورځ سفدر خپلې کورنۍ له پاره ليک، ليکه او خورا بوخت (مصروفه) و، په دې وخت کې آزو راغله، تر څنګ يې ودرېده او د هغه د ليک سر خط يې په فارسي ولوست.
سفدر څنګ ته وکتل؛
آزو ته يې و ويل:
ته له کومه شوې؟
يو دم، لکه پېرۍ پيدا شوې؟
هغې و ويل :
ما له لرې وليدې .
ومې غوښتل تا ته سلام درکړم، کوم وخت چې نږدې شوم ومې ليد ته ليک، ليکې.
سفدر و پوښتل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



فارسي دې له چانه ياده کړې ده؟
هغې و ويل:
د خپلې پلارنې نيا نه.
هغه په اصل کې فارسي ژبې ده.
زه غواړم فارسې ژبه ياده کړم.
سفدر و ويل:
ښه کار دی.
بيا هغې خدا پاماني واخيسته او روانه شوه.
وختونه تېرېدل، درسونه پيلېدل بيا رخصتۍ راتلې، اوړی به ژمی او ژمی به اوړی کېده.
يوه ورځ سفدر په لمړۍ ودانۍ کې په زينو خاته چې مخې ته يې آزو او زرو راغلل، دواړو سفدر ته سلام و وايه، سفدر د هغوی سلام ته عليکم و ويل، بيا آزو سفدر ته و ويل:
زه هم په رخصتيو کې د زرو سره هنګري هيواد ته تللې وم او د تا له پاره مې سوغات راوړی دی.
بيا يې خپله کڅوړه (دستکول) خلاص کړ او يوه کوچنۍ کڅوړه يې را و ويسته او سفدر ته يې ور کړه.
سفدر مننه وکړه او بيا يې خدای پاماني واخيسته او روان شو، ټولګې ته ورسيد پر څوکۍ کيناست او سوغات يې خلاص کړ، ويې ليد چې په هغه کې يو کوچنی دلاس جوړ شوی نر زمری دی.
سفدر پر هغه لاس کش کړ، هغه زمری ډېر ښکلې او پوست و.
سفدر سوچ کوه چې دايې دې ته ورکړې چې کورته يې وېسي او خپل کوچني ورور ته يې ورکړي، تر څو پرې لوبې وکړئ.
درسونه مخ په خلاصېدو شو او يولسم سمسټر ورسېد.
يوه ورځ زرو د سفدر مخې ته راغله او هغه ته يې سلام ور کړ.
سفدر هم هغې ته وعليکم و ويل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې و ويل:
آزو تاته يو وړانديز لري.
سفدر و پوښتل:
څه وړانديز؟
هغې و ويل:
د واده وړانديز.
بيا يې زياته کړه؛
هغه د تاسره مينه لري، او سوچ کوي چې ته هم ور سره مينه لرې.
تېر شوي وخت کې هغې نه غوښتل چې ته او هغه له درسونو و وځئ ، ځکه چې دواړه اول نمره ياست.
په دې وخت کې سفدر هک پک شو، او د زمري د سوغات په معنی پوه شو.
هغه و ويل:
هغه ښه پوهېږی چې زمونږ په هيواد کې جګړه ده، او زه د يوی بې وزلې کورنۍ غړی يم، په ښار کې په کرايي کورونو کې اوسېږم.
ښار کې برېښنا هم لږه ده، ټرانسپورټي ستونزې هم ډېرې او خلک اروپايي کلتور سره آشنا (بلد) نه دي او نه کولای شو پر خلکو يې و منو.
په دې وخت کې آزو هم را ورسېده او سلام يې وکړ، دواړو سلام ته يې وعليکم و ويل:
بيا هغې و ويل:
زه کولای شم په خيمه کې هم ژوند وکړم.
سفدر و ويل:
زه بايد کورته ليک و لېږم او د کورنۍ سره يې شريکه کړم.
هغې و ويل:
ته کولای شئ، دلته پاتې شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مونږ کور او موټر هم لرو.
سفدر و ویل:
زه د کورنۍ سره مشوره کوم او بیا به تا ته خبر درکړم.
هغې ومنه او د زرو سره روانه شوه.
سفدر ډېر خواشینی شو او له ځانه سره یې و ویل:
دا کار نه کېدونکي دی.
زه ناچاره یم، هېواد ته ستون شم.
بیا به هلته جبری عسکری کوم، وخت یې شپږ میاشتې وایي، که په دوي کالونو کې ترې ژوندی خلاص شم، شکر به و باسم.
بیا دا خلک د هوسا ژوند خاوندان دي، جګړه یې نه ده لیدلې او کومو ستونزو سره هم نه دي مخ شوي.
د دې له پاره هېواد کې ژوند کول خورا ستونزمن او د امکان نه لرې ده.
دلته پاتې کېدل هم آسانه کار نه دی، بل هېواد، پردي خلک، بیا کورنۍ به څنګه شئ؟
خورا ډیرې پوښتنې چې حل نه لري.
سفدر سوچ کاوه چې څنګه آزو ته قناعت ورکړی چې له دې وړاندیزه تېره شي.
څو اونۍ تېرې شوې او زرو به کله ناکله د سفدر نه پوښتل:
د لیک ځواب نه دی راغلی؟
هغه به دروغ ویل:
نه!
تر اوسه نه دی راغلی.
بیا به زرو آزو ته احوال ور کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل سمستر هم تېر شو او ديپلوم د دفاع وخت ورسېد، سفدر د ټولونه د مخه په اعلی نمرې دفاع وکړه، او څو ورځې په ليلې کې و، تر څو خپل ديپلوم واخلي او هيواد ته ستون شئ.
ټولو زدکړيالانو د خپلو ديپلومونو دفاع وکړه او ټولو ته و ويل شو:
چېرته به نه ځئ!
ډېر ژر به د تاسو ديپلومونه چاپ او په يوې غونډې کې درکړ شئ.
څو ورځې هم تېري شوي.
غونډه جوړه او ديپلومونه و ويشل شو، ټول فارغان خوشحاله شوو.
سفدر هم د وخت نه د ګټې په اخيستو سره، څه د کور سامان واخيست او په يو کوچني کانتينرکې يې واچول، بيايې خپل کتابونه او پخوا اخيستي شيان يې راټول او کانتينرکې يې د ننه کړل.
د کانټينر دروازه يې ټينګه بيا يې په ټرک (لارئ) کې بار، د کنټرول او لېږد د پاره د ريل ګادي او ګمرک مرکز ته و لېږداوه.
سبايې د ګمرک د مسولينو په مخ کې کانټينر خلاص او د لېږد اجازه يې واخيسته، بيا د ګمرک مسولينو و ويل:
ته کولای شئ، ليلې ته لاړ شئ!
مونږ دا نن لېږو، ته کولای شئ مزار شريف د ريل ګاډی ګمرک نه يې واخلئ.
سفدر مننه وکړه او له هغه ځايه و وت.
بيا ليلې خوا ته روان شو، کوم وخت چې ليلې ته ورسيد نورو افغان زدکړيالانو پرې غږ وکړ:
ښه شو چې راغلئ.
د ليلې مسول و ويل چې:
سبا به هرو مرو د خارجي وزارت ته لاړ اوخپل ديپلومونه راجستر کړئ.
لېست يې پرون لېږلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر له یوې خوا خوشحاله او د بلې خوا د آزو د یوه لار(یوطرفه) مینې په خاطر خپه و.
سوچ یې کاوه، مګر ډېر ناوخته و،
بیا به یې په زړه کې ګرځېده:
کېدای شئ، ټوکې یې کړی وي.
یا یې غوښتل چی ما وځوروئ.
دوې، درې ورځې نورې هم تېرې شوې، دلیلې مسول سفدر ته د هغه پاسپورت او د الوتکې ټکت ورکړ او هغه ته یې و ویل:
تا د الوتکي الوتنه د جمعې په سهار دوې بجې ده.
الوتکه به لمړی له باکو ښار نه تاشکند او بیا وروسته به، بله الوتکه کې کابل ته لاړ شئ.
کوښښ وکړه چې په ټاکلې وخت خپل هېواد ته لاړ شئ.
هغه و ویل:
سمه ده!
ټاکلې ورځ، ورسېده، سفدر خپله کڅوړه (بیک) او یو بکس واخیست اود لیلې لمړي پوړ ته کوز شو، بیا یې ټکسې مرکز ته زنګ و واهه تر څو هغه نړیوال ډګر ته ورسوي.
څو دکیکې وروسته ټکسی ورسید، چلونکی لیلې ته د ننه شو او زدکړیالانو ته یې و ویل:
سفدر څوک دی؟
هغه و ویل:
زه یم.
بیا چلونکي و ویل:
ستا موټر چمتو(تیار) دی.
بکس دې راکړه چې موټر کې یې کېږدم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سفدر د نورو زدکړیالانو، د لیلې مسول سره خدای پاماني وکړه، او ټولو سترګې د اوښکو نه ډکې شوې.
سفدر ټکسي کې کیناست او موټر هم حرکت وکړ.
سفدر ته هم ژړا را تله.
د زدکړیالي ښکلې دوره، امنیت، د ښار پاکوالی، د خلکو مینه، پاکه هوا، تفریحي ځایونه او داسې نور... .
یو ګړۍ وروسته هغه نړیوال ډګر ته ورسېد او نړیوال سالون ته د ننه شو، خپل بکس یې د لټون (کنترول) څانګې کې چک، لېږد ځای کې وسپاره او خپله د کځوړې (بیک) سره نړیوال د الوتنې سالون ته ننوت.
په دې وخت کې یې سترګې په آزو او زرو ولګېدې، چې د هغې پلار مور او خور یې هم ور سره ول.
دی هغوي ته نږدې شو او سلام یې ورکړ، د آزو سترګې سرې وې، هغې ډېر ژړلې ول، اوس یې هم ژړل.
د آزو پلار سفدر ته و ویل:
ته کولای شې دا الوتنه کینسله کړې.
مونږ تاسو د واده مصارف په خپله کوو، او تا ته به په درې کالو کې اقامه واخلو.
بیا ته کولای شې خپله کورنۍ هم دعوت کړې.
سفدر خورا غمجنې او په ژړا شو، لږ وروسته یې دسمال له جبه و ویست او اوښکې یې پاکې کړې.
بیا یې په زړه کې څه وګرځېد او ویې ویل:
زه هیواد ته ځم، خپلې کورنۍ ته قناعت ورکوم او پس له شپږو میاشتو ډوکتورا ته راځم، بیا به سره و وینو او خبرې به رسمي کړو.
په دې وخت کې آزو او نورو مېلمنو کوم چې د آزو سره راغلي ول، خوشحاله شول.
هغوی سفدر ته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که دلته څه ستونزه وي، لیک راواستوه، مونږ یې اواره وو.
سفدر هم خوشحاله شو.
په دې وخت کې اعلان شو چې د تاشکند مسافرین دې الوتکې ته تشریف یوسئ.
سفدر له هغوی نه خدای پاماني واخیسته او د ترمینل نه د وتو دروازې په خوا روان شو.
سفدرڅټ ته و کتل:
آزو ولاړه او ترمینل د وتو دروازې خوا یې کتل او ژړل.
سفدر هم خواشیني روان و.
تر الوتکې د ننه کېدو تر وخت یې څټ ته کتل او آزو یې لیده چې هغه ته ګوري.
سفدر الوتکې ته د ننه شو او پر ټاکلي ځای کیناست، ترمینل ته یې و کتل، مګر څوک نه ښکارېدل.
الوتکې، الوتنه وکړه او د تاشکند نړیوال هوایې ډګر پر لور یې الوتنه پیل کړه.
سفدر به له ځانه سره ویل:
شپږ میاشتې ډیر وخت نه دي، ژر به تېر شئ.
بیا به د ډکتورا له پاره لاړ شم او د آزو سره به خبرې وکړم.
هغه لمړی تاشکند بیا کابل ته ورسېد، د کابل نړیوال ترمینل کې تري پاسپورت واخیستل شو.
هغه امنیتی مسولینو ته و ویل:
زه دوی کلنه ویزه لرم، شپږ میاشتې وروسته بیرته زم.
هغوی و ویل:
شپږ میاشتې وروسته راشه، پاسپورت دې له دې ځایه واخله.
په دې وخت کې یو نظامي افسر راغی او ویې ویل:
دا ټکت واخله!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټکټ کې یې لیکلي ول:
پنځلس ورځینې تعجیل.
بیایې زیاته کړه؛
دا درسره وساته او کولای شئ ځان عسکري ته ځېره او وروسته د عسکري خدمت نه خپلو نورو لوړو زدکړو ته دوام ورکړئ.
سفدر ټکټ واخیست او خپه له ټرمینل نه و وت.
کورته لاړ او د عسکري په هکله یې د کورنۍ سره مشوره وکړه.
ورور یې و ویل:
سبا به څو ځایه په کابل کې وګرځو، خدای مهربانه دی چې کوم ښه ځای په ښار کې و مومو.
هغه و ویل:
سمه ده!
هغوی سهار وختي له کوره و وتل او څوځایه د عسکري د تېرولو په خاطر لاړل.
هغوی یو ښه ځای و موند او ځان یې ځېره کړ.
څو ورځې وروسته یې د آزو د مینې کیسه د ورونو او خویندو سره شریکه کړه؛
هغوی و ویل:
کاشکې دې ور سره واده کړی وای.
هغه و ویل:
ما د تاسو او د جګړو په خاطر دا کار ونه کړ.
بیا یې زیاته کړه، هغی ماته د کور آدرس راکړی دی، زه به ورته لیک واستوم.
ورور یې ورته آیروګرام د خط پاکټ ورکړ او ویې ویل:
هغې ته لیک و لیکه!
سفدر هم لیک و لیکه او پاکټ یې بند کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورور یې ورته د خپل د دندې آدرس ور کړ.
هغه هم پاس د آزو او لاندې یې د خپل ورور آدرس ولیکه، لیک یې
وروړته وکړ چې له مرکزی پوسته خانې نه یې ولیږئ.
هغه د سفدر لیک واستاوه او ورور ته یې د لیږد اطمینان ور کړ.
هغوی به یو بل ته لیکونه لیږل او د یو بل پوښتنه به یې کوله.
د سفدر عسکري اوږده او دهیواد حالات هم پېچلي شو.
حالات مخ په خرابېدو شو، د شوروی په جمهوریتونو کې بدلون راغی
او ټول پنځلس جمهوریتونه له مرکز نه خپله آزادی واخیسته او هر
جمهوریت ځانته هیواد شو.
په آذربایجان کې هم حالات خراب او د ارمنستان هېواد سره په جګړه
بوخت شو.
اړیکې لږې شوی، او یو خط به په شپږو میاشتو کې ته او راته.
یو کال بل هم تېر شو، د آزو له خوا کوم لیک را نه غی.
سفدر بیا ورته لیک واستاوه، لیک د شپږو میاشتو نه وروسته بېرته
مسترد شوی او په کې لیکل شوي ول.
ستاسو آدرس ناسم دی، پخوانۍ ودانۍ نړیدلی او پر ځای یې نوي لوړ
ودانۍ د جوړېدو په حال کې دي.
سفدر ډیر خواشینی شو او څه یې د لاسه، نه راتلل.
د یوې خوا عسکریې د شپږ میاشتو په عوض، دونیم کالوته وغزېده او
له بلې خوا په هېواد کې جګړه توده، تر څو شوروی پلوه رژیم هم
سقوط وکړ او ټولې اړیکې وشلېدې.
کلونه تېر شول، نوې تکنالوژی مینځ ته راغله، ډیری خلک د موبایل
او نورو پاڼو(صفحو) لکه:
سکایپي، فیس بوک، واټساپ، ټویټر، انسټګرام په ذریعه یو بل پیدا
کړل، مګر د آزو نه کوم خبر سفدر ته و نه رسېد.
پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................................................

## د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید اانستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
۱٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
۱٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
۱٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲۵. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معمارۍ کې)
۲٦. مډرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳۵. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



٣٩. برف ها آب میشود
٤٠. رسم و تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد سوم
٤١. آرزو و امید (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامی معمارۍ پیل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حیوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپیلۍ مینه (مه ینه) په کچه ګړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلی مینه (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد سوم)
۲. وچ بڼونه او پارکونه
۳. په اسلامي نظام کې ودانیز پرمختګ
۴. د ژرند ګړي ماما مینه
۵. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۶. لیونی لېوه
۷. بې زده کړې پوی
۸. شپنه ادې
۹. کوشنۍ سوداګره
۱۰. سپین کارغه
۱۱. سور تنور
۱۲. خړه بیزو
۱۳. بندي مرغه
۱۴. توده برستن
۱۵. د ژوند پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



..................................................................................

## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگلیسی)
٢. تاریخ معماری افغانستان
٣. حویلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آینده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شیطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Afghan boy
# And
# Azari Girl's
# Love

Written by:
Architect PHD
Hashmatullah Atmar
June / July - 2024

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**